# کلنی راپور

## په افغانستان کې د رسنیو او خبریالانو د ازادۍ وضعیت

## ۱۴۰۴ هجري لمریز کال

AFJC Afghanistan Journalists Center
مرکز خبرنگاران افغانستان
د افغانستان د خبریالانو مرکز

| لړ لیک | پاڼه |
| --- | --- |


د دې راپور په اړه ........ ۲
سریزه ........ ۳
د راپور لنډیز ........ ٤
د څېړنې کړنلاره ........ ٥
په افغانستان کې د بیان د ازادۍ او د رسنیو د ازادۍ حقوقي چوکاټ ........ ٦
د طالبانو په حکومت کې سیاستونه او د رسنیو حقونه: د کړنلارو او د هغو د پایلو شننه ........ ۸
د طالبانو حکومت له لوري د ابلاغ شویو رسنیزو کړنلارو شننه ........ ۱۰
د رسنیزو شکایتونو او سرغړونو د څېړنې او معلوماتو ته د لاسرسي لپاره حقوقي او قانوني چوکاټونه ........ ۲۷
د خبریالانو او رسنیو له حقونو څخه د سرغړونو شمېرې ........ ۲۸
په ۱٤۰٤ کال کې د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د تاوتریخوالي، نیونو او ګواښلو پېښې ........ ۲۸
د ګواښ هغه ځرګندې بېلګې چې د خبریالانو او رسنیو له حقونو څخه د جدي سرغړونو او معلومات ته د لاسرسي په برخه کې د محدودیتونو لامل شوي دي ........ ۳۱
د طالبانو د واکمنې اداري د تبلیغاتو او پروپاګندا سیستم فعالیت څرنګوالی ........ ۳٤
د طالبانو د تبلیغاتي دستګاه رسمي جوړښت ........ ۳٥
د واکمنې اداري د تبلیغاتو او پروپاګندا غیر رسمي او پټ جوړښت ........ ۳۸
د رسنیو اقتصادي وضعیت ........ ۳۹
رسنیو کې د کارکوونکو ښځو وضعیت ........ ٤۰
د راپور د موندنو ارزونه او شننه ........ ٤۱
وړاندیزونه ........ ٤۳

## د دې راپور په اړه

دا راپور د افغانستان د خبریالانو مرکز د عدالت غوښتنې څانګې له لورې چمتو شوی دی. په دې راپور کې د ۱۴۰۴ کال په اوږدو کې د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د رسنیو د ازادۍ وضعیت څېړل شوی دی، چې پکې د راپور لنډیز، په افغانستان کې د بیان د ازادۍ او د رسنیو د ازادۍ حقوقي چوکاټ، د طالبانو په حکومت کې د رسنیو حقونه او سیاستونه او د کړنلارو او د هغو د پایلو شننه، د رسنیو د ازادۍ په برخه کې صادر شوې رسنیزې کړنلارې، رسنیزو شکایتونو ته د رسېدنې کمیسیون او د اطلاعاتو ته د لاسرسي ریاست ونډه او ځایګاه، د رسنیو او خبریالانو له ازادۍ څخه د سرغړونې شمېرې، هغه رسنۍ چې په تېرو ۱۲ میاشتو کې د طالبانو حکومت د رسنیز سیاست له امله تړل شوې، د واکمنې ادارې د تبلیغاتي او پروپاګند سیستم د فعالیت څرنګوالی، د رسنیو اقتصادي وضعیت، د ښځو د رسنیو او ښځینه خبریالانو وضعیت، د راپور د موندنو شننه او اوسنې وضعیت ته د رسېدنې په موخه وړاندیزونه شامل دي.

د افغانستان د خبریالانو مرکز د یوه خپلواک او نادولتي بنسټ په توګه، په ۱۳۹۲ کال کې د کلنیو او ځانګړو راپورونو چمتو کول او خپرول پیل کړل او دې لړۍ په تېرو ۱۳ کلونو کې پرته له ځنډ دوام درلود.

د افغانستان د خبریالانو مرکز کلنی راپور د ۱۴۰۴ کال د کب په ۲۷مه د خبریال ورځې په مناسبت خپور شو.

## سریزه

د جمهوري نظام له ړنګېدو او د طالبانو له بیا واکمنېدو څخه څه باندې څلور کاله کېږي. په دې موده کې په افغانستان کې د خبریالانو او رسنیو لپاره کاري فضا د ستر بدلون ښکار شوه. په افغانستان کې د بیان ازادي او اطلاعاتو ته د لاسرسي حقونه، چې د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې او د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په ګډون د نړیوالو سندونو پر بنسټ تضمین شوي وه، په تدریج یې خپل ځای ډېرو او سختو محدودیتونو او د طالبانو د حکومت له لوري کنټرول شوي سیاستونو ته ورکړ. دې بدلونونو نه یوازې دا چې رسنیز قانونونه او د بشري حقونو بنسټیز اصول له سوال سره مخ کړي، بلکه په هېواد کې یې د رسنیزو فعالیتونو او فردي ازادیو راتلونکي له جدي ننګونو سره مخ کړې ده.

د جمهوري نظام په دوره کې د بنسټیزو حقونو او رسنیزو او فردي ازادیو پر بنسټ جوړ شوي حقوقي نظام او اسنادو، نن خپل ځای هغو مقرراتو ته پرې ایښی چې د اسلامي شریعت څخه د یو خاص تعبیر او د طالبانو د حکومت د ګټو پر بنسټ ولاړې دي. حقوقي منشورونو او د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون، چې د بیان ازادي حق، د رسنیو خپلواک فعالیت او اطلاعاتو ته ازاد لاسرسی یې په رسمیت پېژانده په عمل کې ګوښه شوي او خپل ځای یې هغو کړنلارو، محدودیتونو او ممنوعیتونو ته پرې ایښی، چې ډېری له روڼتیا پرته او د سیاسی او سلیقوي مبهمو تفسیرونو پر بنسټ پلي کېږي.

په دې راپور کې راغلي، چې د طالبانو له بیا واکمنېدو څلور کاله وروسته د رسنیو په برخه کې سخت او محدودوونکي سیاستونه ډېر شوي دي. د طالبانو حکومت تر کنټرول لاندې دولتي رسنیو کې د ښځو پر کار بندیز، په ازادو او خپلواکو رسنیو کې د ښځو پر کار محدودیت، د موسیقۍ، فلمونو او سرګرمیو، پر خپرولو بندیز، د لاریونونو او اعتراضونو د پوښښ منع کېدل، د واکمني اداري پر چارواکو د نیوکې منع کېدل، له سیاسي مخالفانو سره د مرکو منع کېدل، په مرکو او سیاسي ګردي میزونو شدید محدودیتونه او د ژوندیو خپرونو د خپرېدلو محدودول له هغو بېلګو څخه دي، چې د رسنیو ازادي او خپلواکي اساسي حقونه یې ضعیف کړي دي. د دې ترڅنګ طالبانو د حکومت د پروپاګندا شبکې او امنیتي او تبلیغاتي شبکو په ګډون رسمي او غیر رسمي جوړښتونو له مجازي فضا او نوي ابزارونو څخه په ګټه اخیستنې، یو اړخیزه او تحریف شوي راویتونه دودوي او مخالفان او خپلواکې رسنۍ ځپي.

همدارز د نړیوالو مرستو کمېدل او مالي محدودیتونه د رسنیو د بندېدو او د ډېرو رسنیو د فعالیتونو د کمښت، د کارکوونکو بې کاره کېدو او د تولیدي برنامو د کمښت لامل شوي دي. دا وضعیت د دې لامل شوی، چې د افغانستان رسنیزه فضا ورځ تر بلې لا محدوده او کنټرول شوې شي، په داسې ډول چې خپلواک رسنیز فعالیتونه په عمل کې ډېر محدود یا منع شوي دي.

د ښځو د حقونو او ښځینه خبریالانو په برخه کې وضعیت لا بحراني دی. په رسنیو کې د ښځو پر شتون زیاتېدونکي محدودیتونه، د هغوی د غږ پر خپرولو بندیز او تبعیضي چلندونو پر هغوی د مسلکي فعالیت فضا تنګه کړې ده. دې محدودیتونو د هغوی د فردي او مسلکي حقونو د تضعیف ترڅنګ د ټولنې د اطلاع رسونې پر ازاد او خپلواک حق هم منفي اغیز کړی او د نقد او بیان ازادي فضا یې ډېره کمزورې کړې ده.

په ټوله کې په ۱۴۰۴ کال کې د افغانستان پر رسنیو واکمني حقوقي او سیاسي فضا، نه یوازې دا چې د بیان ازادي او اطلاعاتو ته لاسرسی محدود کړی، بلکه په هېواد کې یې د رسنیو د پراختیا او خپلواکي راتلونکی، له جدي ګواښونو سره مخ کړی دی. دې وضعیت په افغاني ټولنه کې د نقد، بنسټیزو ازادیو او بشري حقونو د کمښت په برخه کې جدي اندېښنې راپارولې دي او د کورنیو او نړیوالو بنسټونو جدي اقدام ته اړتیا لیدل کېږي، څو انساني ارزښتونو او بشري حقونو ته د درناوي ترڅنګ د بنسټیزو ازادیو او د فعالو او خپلواکو رسنیو د ازادیو تضمین لپاره کړنلارې رامنځته شي.

## د راپور لنډيز

اوس مهال څه باندې څلور کاله کېږي، چې طالبان پر افغانستان واکمني کوي. که څه هم د جمهوري نظام له ړنګېدو او د طالبانو له بيا واک ته رسېدو سره په هېواد کې جګړه پای ته رسېدلې ده، خو افغانستان د شاوخوا ۴۰ میلیونه نفوس او يوې ځوانې او متنوعې ټولنې په درلودلو سره، په يو منزوي هېواد بدل شوی دی. واکمنه اداره ښځې، چې د هېواد نيمايي نفوس جوړوي، له لوړو زدهکړو څخه محرومې کړې دي او له کوره بهر يې د هغوی پر فعالیتونو، په ځانګړې ډول د ښځينه خبرياالنو پر فعاليتونو ډېر سخت محدوديتونه لګولي دي. د افغانستان واکمنان په ټوله کې د خلکو د فردي او ټولنيزو ازاديو د ځپلو په حال کې دي او د ازادو رسنيو او د خپلواکو خبرياالنو په ځپلو او معلوماتو ته د خلکو د السرسي په محدودولو سره په چټکۍ او شدت سره د خپل روايت رامنځته کولو او د يو غږيز سياست د دودولو په حال کې دي.

په دې راپور کې راغلي، چې واکمنې اداري په ۱۴۰۴ کال کې د محدودیتونو په لګولو، سانسور، د رسنيو پلټنې او همداراز د خبرياالنو ګواښلو، ويرولو، نیولو او د اجباري اعترافونو په خپرولو سره — چې تر دې وړاندې يې ساری نه درلود — په ټوله کې د اختناق او وېرې فضا خپره کړې ده. د هېواد رسنيزه فضا له تنوع او مخالفو غږونو څخه تشه شوې او رسنيو نه يوازې خپله کاري خپلواکي له السه ورکړې، بلکې دې ته اړې شوې دي چې يوازې هغه معلومات خپاره کړي، چې د واکمنې ادارې له لوري تاييد يا هم توليد شوي وي.

د افغانستان د خبرياالنو مرکز د ۱۴۰۴ کال راپور ښيي، چې د ۱۴۰۳ کال په خالف چې پکې د رسنيو سره د چلند په اړه د واکمنې ادارې دننه دوهګونې چلند ښکاره وه، دا اختالفات په ۱۴۰۴ کال کې لږ تر لږه په ظاهري بڼه کم شوي دي؛ خو «د ځواک سختې هستې» چې له کندهاره رهبري کېږي، د بيان د ازادۍ او په ځانګړې توګه د رسنيو د ځپلو بهير ته په ال زيات شدت سره دوام ورکړی دی. په ۱۴۰۳ کال کې، د واکمنې ادارې وياندويانو او همداراز د اطالعاتو او کلتور وزارت چارواکو، چې د رسنيو په چارو کې د واکمنې ادارې اساسي بنسټ بلل کېږي، د جمهوري نظام د ټولیزو رسنيو له قانون څخه پر مالتړ، چې په يوه ټاکلې چوکاټ کې د رسنيو ازادي په رسميت پېژني او له ازادو رسنيو مالتړ کوي، ټينګار کاوه. د دغو چارواکو په وينا، د رسنيو د قانون او د اطالعاتو ته د السرسي قانون د تعديل طرحه کندهار کې د طالبانو مشرتابه ته لېږل شوې ده او ټاکل شوې چې له «لږ څه بدلون» سره تصويب شي، خو يو بل کال هم تېر شو او د يادو قانونونو برخليک روښانه نه شو.

د افغانستان د خبرياالنو مرکز په راپور کې راغلي، هغه څه چې په تېرو ۱۲ مياشتو کې پېښ شوي، د رسنيزو قانونونو، په ځانګړې ډول د رسنيو د قانون، مبهم حالت څرګندوي، او دغه قانون له څو محدودو مواردو لکه د کاري جوازونو د صادرول يا نوي کولو او د مالي اړوند موضوعاتو، پرته نه دی پلي شوی. د راپور موندنې ښيي چې د استخباراتو لوی رياست او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په تېرو څلورو کلونو کې په بشپړه خپلواکي د رسنيزو کړنالرو او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پر بنسټ، له کوم روښانه حقوقي چوکاټ پرته، په فعاله توګه د رسنيو او خبرياالنو پر ضد اقدام کړی دی. په راپور کې روښانه شوې چې يادو ادارو په ۱۴۰۴ کال کې د خپل ځواک په زياتولو سره، د اطالعاتو او کلتور وزارت ځايګاه او ونډه، چې په رسنيزو چارو کې د واکمنې ادارې اساسي بنسټ بلل کېږي، کمزورې کړې ده.

د افغانستان د خبرياالنو مرکز د موندنو پر بنسټ، هغه خبرياالن چې د رسنيزو کړنالرو او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون احکامو ته يې پاملرنه نه ده کړې، ګواښل شوي دي او يا هم بنديان شوي دي او هغه رسنۍ چې د يادو کړنالرو پر وړاندې يې بېپروايي ښودلې، له تنبيهي چلندونو لکه په لنډ مهاله او يا دايمي توګه له فعاليت څخه پاتې کېدلو سره مخ شوي دي.

د افغانستان د خبرياالنو د مرکز د رسنيو د ازادۍ څارونکي په ۱۴۰۴ کال کې د رسنيو او خبرياالنو له حقونو څخه د سرغړونې لږ تر لږه ۲۰۷ پېښې ثبت کړې دي، چې پکې د دوو تنو وژل کېدل، يو تن ټپي کېدل ــ پاکستاني پوځيانو ته منسوب شويو بريدونو کې ــ او د ۲۱ خبرياالنو د نيولو په ګډون، ۱۸۳ د ګواښونو پېښې شاملې دي. د ګواښ له څرګندو بېلګو څخه د ژونديو موجوداتو پر خپرولو د بنديز له امله د لږ تر لږه ۲۱ سيمهييزو تلويزيونونو او د واکمنې ادارې د رسنيز سياست د نه رعايت په تور د لسو رسنو او خبرياالي بنسټونو تړل کېدل او د لږ تر لږه ۱۰ رسنيزو او خبرياالي

بنسټونو د کاري جوازونو لغو کول یادولای شو. د دې راپور موندنې ښيي، چې د ۱۴۰۴ کال تر پایه لږ تر لږه پنځه تنه خبریالان اوس هم په پلچرخي او بګرام کې بندي دي او لسګونه خبریالان او رسنيز کارکوونکي په هېواد کې د شته وضعيت له امله د پاکستان، ایران او ترکيې په ګډون ګاونډيو هېوادونو کې بې برخليکه ژوند کوي.

د دې راپور پر بنسټ، په ۱۴۰۳ کال کې په اووه ولایتونو کې د انځورونو پر اخیستلو او له چاروکو سره پر وېډیويي مرکو بندیز پلي شوی وو، خو دا شمېر په ۱۴۰۴ کال کې ۱۸ ولایتونو ته لوړ شو او د هغو ولایتونو شمېر چې دا بندیز یې اعلان کړی دی ۲۵ ته ورسېد. څېړنې ښيي چې د دې بندیز له پراخېدو سره په نیمروز، بدخشان، بغلان، جوزجان، زابل، پروان، کندز، بامیان، دایکندی، فاریاب، پنجشیر، لغمان، سرپل، بلخ، هرات، پکتیا، روزګان او کاپیسا ولایتونو کې لږ تر لږه ۲۰ سیمه‌ییز تلویزیونونه یا تړل شوي دي او یا راډیویي بڼې ته اوښتي دي. همدارازدوه راډیوګانې، دوه رسنيز او خبریالي بنسټونه، یو تلویزیون او یک خبري اژانس د واکمنې اداري د رسنیزو سیاستونو سره په ټکر کې توب په تور تړل شوي او د دې راپور د خپرېدو تر نېټې یې د فعالیت اجازه نه ده ترلاسه کړې. سربېره پر دې په ۱۴۰۴ کال کې د واکمنې اداري له لوري د لږ تر لږه ۱۰ رسنيزو او خبریالي بنسټونو کاري جوازونه او یا اجازه لیکونه لغو شوي دي.

په ۱۴۰۴ کال کې یاد محدودیتونه په داسې حال کې لا سخت شول چې د رسنيزو اعلانونو، ملاتړ شویو پروګرامونو او نړیوالو مرستو له لارې د رسنیو عایداتي سرچینې هم په شدت سره کمې شولې. یاد وضعیت لامل شو، څو لویې رسنۍ په کابل او نورو لویو ښارونو کې د خپلو تولیدي برنامو او کارکوونکو شمېر راکم کړي. دغه حالت پر کوچنیو رسنیو ډېر دروند اغیز کړی، تر دې کچې چې ځینې یې وقفه‌یي فعالیت کوي او کله چې تجارتي اعلان تر لاسه کړي، نو بیا خپل فعالیت له سره پیلوي.

په ۱۴۰۴ کال کې د رسنیو له حقونو څخه د سرغړونو شمېر د ۱۴۰۳ کال په پرتله شاؤخوا ۲۰ سلنه زیاتوالی ښيي. په ۱۴۰۳ کال کې ۱۷۲ پېښې ثبت شوې وې، چې پکې ۱۲۲ د ګواښونو او ۵۰ د خبریالانو نیول شامل وو.

## د څېړنې کړنلاره

دا راپور په افغانستان کې په ۱۴۰۴ کال (د ۱۴۰۴ د وري له پیل د ۱۴۰۴ کال د کب تر ۲۷مې) کې د رسنیو د ازادۍ څارونکي یا شمېرونکي د شمېرو پر بنسټ، چې د افغانستان د خبریالانو د مرکز د عدالت غوښتنې څانګې تر پوښښ لاندې فعالیت کوي، چمتو شوی.

د رسنیو د وضعیت څارونکی په افغانستان کې د رسنیو د ازادۍ او خبریالانو له حقونو څخه د سرغړونو د ثبت لوړنۍ انلاین مرکز دی، چې په ۱۳۹۲ کال کې جوړ شوی او معلومات یې په انلاین بڼه او په دریبو فارسي، پښتو او انګلیسي ژبو خپرېږي. د څارونکي د شمېرو په خپرولو کې د خبریالانو د امنیت او خوندیتوب مسایل په پام کې نیول کېږي او له همدې امله په ځینو مواردو کې د رسنیو یا افرادو جزئیات او ځانګړنې نه ځای پر ځای کېږي.

د پېښو څارونکي معلومات په بېلابېلو ولایتونو کې او له هېواد څخه بهر د افغانستان د خبریالانو مرکز د استازو او همکارانو له لوري د راټول شویو راپورونه پر بنسټ جوړېږي. په دې برخه کې د افغانستان د خبریالانو مرکز له خلاصو سرچینو لکه ویب سایټونه او په ټولنیزو شبکو کې د خبریالانو او رسنیو له پاڼو او یا له هغو معلوماتو څخه چې په مجازي رسنیو کې له پیغام او یا ایمیل له لارې ترلاسه کوي، ګټه اخلي. دا معلومات له بل خبره سرچینو په ځانګړي ډول له هغو کسانو سره چې زیان یې لیدلی او یا تر اغیز لاندې راغلي او یا هم د هغوی له کورنیو او هغو کسانو او بنسټونو سره څېړي چې په دې پېښو ښه خبر دي او د باور وړ ګڼل کېږي او له تایید وروسته ثبت کېږي.

د افغانستان د خبریالانو مرکز د عدالت غوښتنې د څانګې په دې راپور کې هغه پېښې نه دي شاملې کړي، چې اعتبار یې نه دی تایید شوی او په ورته وخت کې روښانوي، چې کېدای شي د امنیتي دلایلو له امله په هېواد کې ټولې هغه پېښې چې پکې د خبریالانو او رسنیو له حقونو څخه سرغړونه شوې وي، دې اداري ته نه وي راپور شوي یا د رسنیو مسؤول یا اغېزمن یا ګواښل شوي خبریال نه وي غوښتي، څو رسنيز شي. په دې راپور کې د ځینو پېښو جزییات د هغو کسانو د خوندیتوب لپاره نه دي ذکر شوي، چې حقونه یې تر پښو لاندې شوي دي.




د طلوع نیوز سټوډیو، کابل، ۱۳۹۹ د چنګاښ ۲۸مه

## په افغانستان کې د بیان د ازادۍ او د رسنیو د ازادۍ حقوقي چوکاټ

د بیان ازادي حق د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې په ۱۹مې مادې او همدارنګه د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په چوکاټ کې تضمین شوی دی. افغانستان د مدني او سیاسي حقوقو د نړیوال میثاق د غړي په توګه مسؤولیت لري، چې بشري حقونه دود، ساتنه او رعایت کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د ټولنې ټول وګړي په ځانګړي ډول خبریالان، کولای شي د بیان ازادۍ له حق څخه ګټه پورته کړي. په دې مسؤولیت کې د داسې مناسبې فضا رامنځته کول هم شامل دي چې رسنۍ وکولای شي پکې په خوندي او خپلواکه توګه فعالیت وکړي او همدارنګه هغه کسان چې د رسنیو پر کارکوونکو بریدونه ترسره کوي، د قانون منګولو ته وسپارل شي. د افغانستان اساسي قانون او د ټولیزو رسنیو قانون د اسلامي شریعت د اصولو او حکمونو او همدارنګه د افغانستان د نړیوالو ژمنو او قوانینو په پام کې نیولو سره، چې پکې د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې ۱۹مه ماده او د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق هم شامل دي، جوړ شوی دی.

د بیان ازادي او د رسنیو ازادي د افغانستان په اساسي قانون کې چې د جمهوریت د حکومت پر مهال په ۱۳۸۲ کال کې تصویب شوی و، په رسمي ډول په رسمیت پیژندل شوې ده. د افغانستان د اساسي قانون په ۳۴مه ماده کې راغلي دي: « د بیان ازادي له تېري خوندي ده. هر افغان حق لري، چې خپل فکر د وینا، لیکنې، انځور او یا نورو وسایلو له لارې د دې قانون له حکمونو سره سم اظهار یا ښکاره کړي. هر افغان حق لري چې د یاد قانون له حکمونو سره سم، دولتي چارواکو ته له مخکنی خبرتیا پرته، د مطالبو پر چاپ او خپراوي لاس پورې کړي.» د واکمنې اداري د عدلیې وزارت د ۱۴۰۳ کال د وري په ۲۴مه اعلان وکړ چې د پخواني حکومت اساسي قانون لغوه شوی دی.

همدارنګه، د افغانستان د ازادو رسنیو او خبریالانو حقوقي چوکاټ په خپل ځانګړي قانون «ټولیزو رسنیو قانون» کې تعریف شوی دی. دا قانون په ۱۳۸۷ کال کې تصویب شو او په ۱۳۹۳ کال کې یې یو شمیر مادې تعدیل او اصلاح شوې، او په ۱۱ فصلونو او ۵۵ مادو کې خپور شو. د ټولیزو رسنیو قانون د فکر او بیان ازادۍ، ازادو او خپلواکو رسنیو او اطلاعاتو ته له ازاد لاسرسي څخه ملاتړ کوي. سربېره پر دې، معلوماتو ته د لاسرسي په برخه کې هم ځانګړی قانون شته چې د نړۍ له تر ټولو غوره نافذه قانونونو څخه شمېرل کېږي. دا قانون په ۱۳۹۳ کال کې تصویب شو او بیا په ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ کلونو کې دوه ځله تعدیل شو.

د ۱۴۰۰ کال په زمري میاشت کې، د جمهوري نظام له ړنګېدو او د طالبانو بیا واک ته راستنېدو وروسته، د طالبانو واکمني اداري اعلان وکړ چې د رسنیزو قانونونو د تعدیل طرحه د لړو بدلونونو سره کندهار کې د طالبانو مشرتابه ته استول شوې ده. د واکمني اداري د اطلاعاتو او کلتور وزارت مخکني وزیر خیرالله خیرخواه، د ۱۴۰۳ کال د چنګاښ په ۳مه نېټه د پکتیا ولایت په ګردېز کې د خبریالانو غونډې ته وویل، چې د تولیزو رسنیو پخوانی قانون «له شریعت» او «د اسلامي امارت له اصولو» سره برابر دی او «په لړو توپیرونو» سره به ډېر ژر توشیح شي او د رسنیو چوپړ ته به وړاندې شي.

د طالبانو د حکومت د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتي چارو مرستیال حیات الله مهاجر فراهي، د رسنیو د قانون د تعدیل طرحې د منځپانګې په اړه وویل: «په دې قانون کې پر درېیو مواردو ډېر ټینګار شوی دی؛ د اسلامي ارزښتونو درناوی، افغاني کلتور او د هېواد ملي ګټې.»

مهاجر فراهي د ۱۴۰۳ کال د لیندۍ په ۳۰مه، د افغانستان د خبریالانو مرکز د دې پوښتنې په ځواب کې، چې ایا د جمهوریت د دورې د تولیزو رسنیو قانون تر هغې پورې چې د دې قانون د تعدیل طرحه د طالبانو د مشرتابه له لوري توشیح کېږي، د پلي کېدو وړ او نافذ دی؟ وویل: «هو، له ځینو مواردو پرته، د دې قانون ډېری برخې.»

خو سره له دې چې د طالبانو له واکمنۍ څخه څه باندې څلور کلونه وشول، د تولیزو رسنیو د قانون د تعدیل شوې طرحې او معلوماتو ته د لاسرسي قانون برخلیک تر ۱۴۰۴ کال پورې لا هم روښانه نه شو او آن تر دې چې د رسنیزو قانونونو پلي کول هم مبهم دي او د تولیزو رسنیو قانون یوازې په محدودو مواردو لکه د کارې جواز د صادرولو یا نوي کولو او له مالیې سره اړوندو مسائلو کې پلي کېږي.




## د طالبانو په حکومت کې سیاستونه او د رسنیو حقونه: د کړنلارو او د هغو د پایلو شننه

د دې راپور موندنې ښيي، چې د ازادو رسنيو د ځپنې له سياست سره د واکمني اداري د ځيني منځ لارو چارواکو مخالفت، چې تر ۱۴۰۳ کال پورې په ښکاره توګه څرګندېده، په ۱۴۰۴ کال کې په ندرت وليدل شو؛ حتی تر دې چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارواکو او د واکمني ادارې لوړ پوړو ویاندویانو په دې برخه کې له خپلو دریځونو څخه په شا شول او یا غلي پاتې دي. د رسنيو او خبریالانو اړوند چارو کې د واکمني ادارې د بنسټيزې ادارې په توګه د اطلاعاتو او کلتور وزارت ونډه د وخت په تېرېدو کمرنګه شوې او یاد وزارت ځنډې ته شوی دی.

د واکمني ادارې د بهرنيو چارو وزارت د سیاسي چارو مخکني مرستیال شیر محمد عباس ستانکزي د ۱۴۰۳ کال د لیندۍ په ۲۹مه په علومو اکاډمۍ کې د « د اسلامي نظام په ټينګښت کې د رسنيو ونډه» تر سرلیک لاندې جوړ شوي سیمینار کې پر رسنيو شته محدودیتونو او فشارونو ته په اشارې وویل:« پر هغوی ډېرې نيوکې او محدودیتونه پرته له زیان، هېڅ ګټه نه لري. پر همدې اساس د اسلامي امارت[د طالبانو حکومت] څخه مې غوښتنه داده، چې زموږ رسنۍ تقویت کړي، تر شا یې ودرېږي او په جزئي مسائلو کې دې کار نه سختوي او اجازه دې ورکړي چې نړیوالو رسنيو سره خپلې مبارزې ته دوام ورکړي. دا کار هغه مهال ترسره کېږي، چې د اسلامي امارت او رسنيو ترمنځ واټن له منځه ولاړ شي.»

په همدې سیمینار کې د واکمني ادارې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو چارو مرستیال حیات‌الله مهاجر فراهي وویل: « موږ هیڅ کله له رسنيو سره د تقابل لاره نه ده خپله کړې. د رسنيو لپاره مشخصه پته شتون لري او د اطلاعاتو او کلتور وزارت دروازه د رسنيو پر مخ خلاصه ده.»

خو بل‌خوا، د طالبانو د حکومت سخت دریځه لوري د رسنیزو کړنلارو په ابلاغ په ځانګړي ډول د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر قانون پر بنسټ چې د ۱۴۰۳ کال په زمري په ۳۱مه خپور شو، د رسنيو او خپلواکو خبریالانو پر وړاندې سخت چلند خپل کړی دی. د واکمني ادارې ځيني چارواکي په ښکاره توګه له خبریالانو سره له تیز چلند او د هغوی له نیولو ملاتړ کوي او حتی یاد چلندونه توجیه کوي.




د طالبانو حکومت د چارو اداري رئیس [نور الحق انور](#) د ۱۴۰۴ کال د تلې په لومړۍ نیټه په کابل کې د «رښتیني ژورنالیزم، پوه خلکو او سالمې ټولنې» تر سرلیک لاندې جوړې شوې ناسته کې وویل، چې د طالبانو حکومت رښتیني خبریالانو ته اړتیا لري او له هغوی ملاتړ کوي.

هغه وویل: « خبریالان باید د خبریالۍ اصولو پر بنسټ حقایق منعکس کړي او د خلکو په منځ کې د وحشت او وېرې له خپرولو ډډه وکړي.» د چارو اداري رئیس د طالبانو حکومت له رسنیزې پالیسي څخه د دفاع ترڅنګ وویل:« که کوم خبریال بندي شوی؛ حق یې دی، وژلی خو یې نه دی، بلکه تنبیه شوی دی.» هغه د خپلو خبرو په دوام کې د جمهوري نظام پر رسنیو او خبریالانو نیوکه وکړه او هغوی یې په دروغ ویلو او پروپاګند خپرولو تورن کړل.

## د طالبانو حکومت له لوري د ابلاغ شویو رسنیزو کړنلارو شننه

د ۱۴۰۰ کال د زمري په ۲۴مه د طالبانو له بیا واکمنېدو راهیسې، د واکمني اداري د چارواکو له لوري لږ تر لږه ۲۴ رسنیزې کړنلارې صادرې شوي، چې په دې برخه کې یې پر رسنیو او خبریالانو ګڼ محدودیتونه تحمیل کړي دي. په ۱۴۰۴ کال کې د رسنیو بحراني وضعیت د هغې سیستماتیکې ځپنې پایله ده، چې طالبانو په ۱۴۰۰ کال کې له واک رسېدو سره سم پیل کړې ده. د افغانستان د خبریالانو مرکز د یادې لړۍ ښه درک لپاره په دې موده کې صادرې شوې کړنلارې څېړلې دي.

### ۱: د «ملي راډیو او تلویزیون» په ګډون په «دولتي رسنیو» کې د ښځو پر کار بندیز

د جمهوري نظام د ړنګېدو او د طالبانو واک ته راستنېدو په هماغه لومړنیو ورځو کې ښځینه کارکوونکي د «ملي راډیو او تلویزیون» په ګډون په «دولتي رسنیو» کې له کار کولو څخه محرومې شوې او د واکمني اداري چارواکو په دې رسنیو کې د ښځو له شتون څخه مخنیوی وکړ. په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې یوې سرچینې د افغانستان د خبریالانو مرکز سره په خبري کې تایید کړه، چې یاد بندیز د واکمني اداري تر کنټرول لاندې په نورو رسنیو لکه چاپي رسنۍ، حریت او امید راډیوګانو کې هم پلي کېږي.




### ۲: د لاریونونو او مدني اعتراضونو د پوښښ منع کېدل

د ۱۴۰۰ د وږي په ۱۷مه د طالبانو د واکمني اداري د کورنیو چارو وزارت د « هر نوم او سرلیک» لاندې د لاریونونو ترسره کول منع کړل او اعلان یې وکړ چې په دې برخه کې د سرغړوني په صورت کې « د پېښې مسؤولیت د سرغړوونکو پر غاړه دی.» په همدې برخه کې د لاریونونو او مدني اعتراضونو د پوښښ د منع کولو په تړاو هم رسنیو ته یو شفاهي کړنلاره ابلاغ شوه.

### ۳: اطلاعاتو ته پر لاسرسي، د خبر او راپور پر خپرولو او د منځپانګې پر تولید د محدودیت وضع کېدل

د طالبانو د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس یوسف احمدي د ۱۴۰۰ کال د وږي په ۲۸مه رسنیو او خبریالانو ته په لاندې شرح، یوه ۱۱ ماده‌ییزه مقرره اعلان کړه:

۱- هغه موضوعات دې نه خپرېږي چې د اسلام سره په ټکر کې دي؛

۲- په رسنیزو فعالیتونو کې دې ملي شخصیتونو ته سپکاوی نه کېږي؛

۳- ملي او شخصي حریم ته دې سپکاوی نه کېږي؛

٤- رسنۍ او خبریالان دې رسنیزه منځپانګه نه تحریفوي؛

٥- خبریالان دې په لیکنو کې خبري اصول په پام کې ولري؛

٦- رسنۍ دې په خپلو خپرونو کې توازن په پام کې ولري؛

۷- د هغو موضوګانو په خپرولو کې دې احتیاط وشي، چې کره‌والی یې معلوم نه وي او د مسؤولینو له لوري تایید شوي نه وي؛

۸- د هغو موضوګانو په خپرولو کې دې احتیاط وشي، چې د خلکو پر ذهنونو منفي اغیز لري او یا د خلکو روحیه خرابوي؛

۹- رسنۍ دې د خبرونو په خپرولو کې بې طرفي وساتي او هر هغه څه چې حقیقت وي خپاره کړي؛

۱۰- د حکومت د رسنیو مرکز هڅه کوي، څو له خبریالانو او رسنیو سره همکار پاتې او د راپورونو په جوړولو کې آسانتیاوې برابرې کړي او رسنۍ دې وروسته له دې له دې اداري سره په همغږۍ خپل تفصیلي راپورونه چمتو کړي؛

۱۱- د حکومت د رسنیو په مرکز کې رسنیو او خبریالانو ته د اسانتیا لپاره یو ځانګړی فورم چمتو شوی، څو د هغه په مرسته خپل راپورونه چمتو کړي.

د دې کړنلارې درې لومړۍ مادې د هېواد له ټولیزو رسنیو قانون څخه اخیستل شوي، خو له اسلام سره په ټکر کې او ملي حریم او ملي شخصیت ته له سپکاوي څخه یې تعریفونه واضح نه دي او کولای شي د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې فشار ته زمینه برابره کړي.

## ٤: طالبان د افغانستان د حکومت په توګه پېژندلو ته د خبریالانو او رسنیو اړ ایستل

د واکمنې اداري د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۱۴۰۰ کال د تلې په ۳مه د یاد وزارت مرستیال ذبیح الله مجاهد په لاسلیک په کابل کې یو شمېر تلویزیوني شبکو ته په یو لیک کې یک شپږ ماده‌ییزه کړنلاره ابلاغ کړه. د دې کړنلارې پنځه مادې مخکې هم بیان شوې وې، خو په شپږمه ماده کې راغلي، چې طالبان اوس په ټول افغانستان کنټرول لري او وروسته له دې باید ورته «د طالبانو ډله» ونه ویل شي او پر ځای یې باید « د افغانستان اسلامي امارت» وویل شي. په بله معنی دا کړنلاره رسنۍ اړ باسي څو طالبان د افغانستان د حکومت په توګه په رسمیت وپېژني، په داسې حال کې چې تر دې دمه طالبان یوازې د یوه هېواد«روسیې» له لوري په رسمیت پېژندل شوي دي.




په هرات کې د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر اداري کارکوونکي د موسيقي آلاتو د سوځولو په حال کې. سرچينه: کاوشگر يوتيوب، ۱۴۰۳ د چنګاښ ۶مه

## ٥: په رسنيو کې د موسيقي پر خپرولو بنديز

د موسيقي پر خپرولو د بنديز په برخه کې د طالبانو د واکمني اداري له لوري يوه واحده او رسمي کړنلاره رسنيو ته نه ده ورکړل شوې. سره له رسنيو څخه د موسيقي پر خپرولو بنديز د لومړي ځل لپاره په کندهار کې د واکمني اداري د ځواک مرکز دی د ۱۴۰۰ کال د وږي په ۷مه ــ واک ته د طالبانو له بيا راګرځېدو دوه اونۍ وروسته ــ رسنيو ته ابلاغ شو.

## ٦: په تلويزيوني نمايشنامو کې د ښځو پر شتون او د فلم او سريال پر خپرولو بنديز او مخ پټولو ته د ښځينه رسنيزو کارکوونکو اړ ايستل

د واکمني اداري د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزير محمد خالد حنفي د ۱۴۰۰ کال د لړم ۳۰مه په کال کې د يوې خبري ناستې پر مهال يو اته ماده‌ييزه کړنلاره په لاندې شرح اعلان کړه:

١- هغه فلمونه دې نه خپرېږي، چې له اسلامي شريعت او افغاني کلتوري ارزښتونو سره سمون نه لري؛

٢- هغه فلمونه دې نه خپرېږي، چې ټولنيزو اخلاقو او د افغانستان کلتوري اصولو ته زيان رسوي؛

٣- د سرګرمۍ او يا شخصيتونو ته د سپکاوي برنامې دې نه خپرېږي؛

٤- د هغو ننداړو څخه دې ډډه وشي، چې پکې شرعي اصول او انساني کرامت تر پښو لاندې کېږي؛

٥- د هغو فلمونو او ويډيوګانو له خپرولو دې ډډه وشي، چې د نارينه‌وو د بدن خصوصي برخې پکې ښودل کېږي؛

٦- په تلويزيونونو کې دې د ښځو له لوري اسلامي حجاب رعايت شي؛

٧- هغه ننداړې دې نه خپرېږي، چې ممثلين يې ښځينه وي؛

۸- د هغو سریالونو(فلمونو) خپرول په مطلق ډول بند دي، چې د هغو لوبغاړو څهرې پکې ښکاري، چې د پیغمبرانو او د صحابه کرامو( د حضرت محمد «ص» اصحاب) نقش لوبوي.

په همدې لړ کې د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت استازو د ۱۴۰۱ کال د غويي په ۲۷مه کابل کې د یو شمېر رسنیو له مسؤولینو سره ناسته کې په رسنیو کې د ښځو د شتون او د کار پر مهال د پوښښ څرنګوالي په تړاو د یاد وزارت کړنلاره اعلان کړه. د دې کړنلارې سره سم ښځې باید تلویزیون کې د ښکاره کېدو پر مهال، خپل مخ پټ کړي.

د تلویزیونونو لپاره د دې کړنلارې پایلې ډېرې سترې وې، ډېرى تلویزیونونو به له دې وړاندې د ترکي او هندي سریالونو په ګډون بهرنۍ سریالونو دوبله او خپرول او له دې لارې به د مخاطبینو د جذب په لټه کې وو. په دې کړنلاره کې حتی هغه تلویزونونه هم شامل وو، چې « د اسلامي منځپانګې لرونکي» فلمونه او سریالونه به یې خپرول او له هغوی هم غوښتل شوي، چې دې بهیر ته د پای ټکی کېږدي.

### ۷: په رسنیو کې د ښځو او نارینه‌وو ترمنځ تفکیک او د هغو مرکو منع کېدل، چې ښځې یې له نارینه او یا نارینه یې له ښځو سره کوي

له دې کړنلارې سره سم رسنۍ ملکفي شوې، چې ښځینه خبریالانو لپاره ځانګړې ځای په پام کې ونیسي او ښځې او نارینه باید په یو ګډ چاپېریال کې کار ونه کړي. له دې کړنلارې سره سم ښځینه خبریالانې نه شي کولای په مستقیم ډول له نارینه‌وو سره مرکه وکړي؛ که څه هم دا محدودیت په کابل کې رسنیو ته کم وو او نارینه‌وو اجازه درلوده په آنلاین بڼه له ښځینه‌وو سره مرکه وکړي. خو سره له دې دا کړنلاره له څو مواردو پرته له کابل څخه بهر په شدت پلې کېږي او ښځې اجازه نه لري حتی رسنیو ته د کار لپاره ورشي. څو موارد هم هغه لړ شمېر رسنۍ رانغاړي چې د ښځو اړوند دي او یا په ځینو ولایتونو کې د خلاص ټولنیزي او کلتوري بستر او د لړ محافظه کاره طالب چاراوکو د شتون له امله ښځې په خاصو شرایطو سره له کور څخه بهر له ښځینه‌وو سره مرکې کولای شي او کولای شي په کور کې راپور چمتو او د خپرولو لپاره د رسنۍ دفتر ته ولېږي. هغه رسنۍ چې له دې پرېکړې څخه یې سرغړونه کړې ګواښل شوي او یا تړل شوي دي. د بېلګې په توګه د ۱۴۰۲ کال د زمري په ۱۰مه په جلال اباد کې همیشه بهار تلویزیون د ښځینه او نارینه خبریالانو لپاره د مختلطې ښوونیزې دورې ترسره کولو له امله وتړل شو.

### ۸: د طالبانو له مخالفانو او منتقدانو سره پر مرکو د محدودیت وضع کېدل

د واکمني اداري د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت د ۱۴۰۰ کال د لیندۍ په لومړۍ نېټه یو کړنلاره ابلاغ کړه، چې پکې له خبریالانو غوښتل شوي وو، څو د واکمني اداري له مخالفانو او هغو شنونکو سره چې پر طالبانو نیوکه کوي، مرکې ونه کړي او یا هم هغوی تلویزیوني بحثونو ته را ونه غواړي. د طلوع نیوز، شمشاد، یک او آریانا په ګډون په کابل کې د څلورو خصوصي تلویزیوني شبکو رئیسان د ۱۴۰۰ کال د لیندۍ په ۲۵مه او د مرغومي په لومړۍ نېټه اطلاعاتو او کلتور وزارت ته احضار شول. په دې ناسته کې چې د استخباراتو او امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت د استازو په شتون کې ترسره شوه، د رسنیو مسؤولینو ته د دې کړنلارې د ښه پلي کولو په موخه یادونه وشوه.




### ۹: په افغانستان کې د نړیوالو تلویزونونو د برنامو پر خپرولو بندیز

د ۱۴۰۰ کال د وري په ۷مه واکمنې ادارې هغو کورنیو تلویزیوني شبکو ته، چې د بهرنیو رسنیو برنامې یې خپرولې امر وکړ، څو دې بهیر ته د پای ټکی کېږدي. له دې پرېکړې سره د امریکا غږ(پښتو، فارسي)، بي بي سي( پښتو، فارسي، ازبکي) او همداراز د دویچوله(المان) په کډون د بهرنیو تلویزیونونو د ټولو برنامو خپرول ودرول شول. د یادو تلویزیونونو برنامې د آریانا نیوز، شمشاد او ارزو په ګډون د یو شمېر کورنیو تلویزونونو له لارې خپرېدلې.

### ۱۰: د سیاسي، امنیتي او ټولنیزې منځپانګې درلودونکو سوداګریزو اعلاناتو په خپرولو کې د محدودیت لګول

د واکمنې ادارې د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال د ۱۴۰۱ کال د غويي په ۶مه رسنیو ته په یو لیک کې روښانه کړه، چې رسنۍ دې له دې وروسته د یاد وزارت پر رسنیو د څار ریاست سره له همغږۍ پرته د هغو سوداګریزو اعلانونو له خپرولو ډډه وکړي، چې سیاسي، امنیتي او ټولیزه منځپانګه لري.


بسم الله الرحمن الرحيم

لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام

شماره: (۳۵) | فرمان | تاریخ: ۱۴۴۳/۱۲/۱۹ هـ.ق

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد اتهامات بی‌جا بر کارمندان و مسؤلین امارت اسلامی و جلوگیری از بی‌قدری نمودن آنها

مطابق هدایات اسلامی، وارد نمودن اتهامات بی‌جا بر مسؤلین و نقد کردن دور از واقعیت شرعاً جواز ندارد. نشر ارجاف و شایعات در اسلام جا ندارد و در بین مسلمانان هم سبب نفرت و انزجار می‌گردد، اعتبار و باور را از بین می‌برد و همت‌ها را ضعیف می‌سازد.

### ۱۱: د طالب چارواکو پر کړنو د نیوکې نه کولو په برخه کې رسنیو ته امر

د ۱۴۰۱ کال د چنګاښ په ۱۸مه د واکمني اداري مشرتابه ملا هبت‌الله ته له منسوب شوي فرمان سره سم د طالبانو حکومت پر چارواکو نیوکه د شریعت خلاف وبلل شوه. په دې فرمان کې راغلي:« له اسلامي لارښوونو سره سم، پر طالب چارواکو نیوکه او د بې ځایه تورونو لګول شرعاً جواز نه لري او هغه څوک چې له دې فرمان څخه سرغړونه کوي سزا ورکول کېږي.»

### ۱۲:په هلمند کې د خبریالانو له لوري له مسؤولینو او خلکو سره پر وېډیويي مرکو او انځور اخیستلو بندیز

په هلمند کې د واکمني اداري د اطلاعاتو او کلتور ریاست د ۱۴۰۱ د کب په ۲مه خبریالانو ته په شفاهي توګه له مسؤولینو سره انځوریزې مرکې او یا په یاد ولایت کې له هېوادوالو څخه د وېډیويي راپورونو چمتو کول منع اعلان کړل او خبریالانو ته خبرداری ورکړل شو چې له دې پرېکړې سرغړونه ونه کړي. دا پرېکړه چې په خپل ډول کې بې سارې وه، درې اوونۍ وروسته لغو شوه او خبریالانو ته وویل شول چې سوء تفاهم شوی دی او په دې برخه کې هېڅ محدودیت شتون نه لري. سره له دې، پر انځور اخیستني او وېډیويي مرکو بندیز په رسمي توګه په ۱۴۰۳ کال کې له کندهاره پیل او نورو ولایتونو ته وغځېد.




### ۱۳: له تبعيدي رسنيو سره پر کار او همکاري بنديز

واکمنه اداره يو شمېر هغه رسنۍ چې د اسلامي جمهوريت نظام تر ړنګېدو وروسته له افغانستان څخه بهر د هېواد د وضعيت د پوښښ لپاره رامنځته شوې دي، د ځان پر ضد په تبليغاتو تورنوي او څو ځله په کابل او ولايتونو کې خبريالانو ته خبرداری ورکړل شوی، چې له تبعيدي رسنيو سره له هر ډول کار او همکارۍ څخه ډډه وکړي. د افغانستان د خبريالانو د مرکز موندنې ښيي چې د ډېری هغو خبريالانو اصلي تور چې د جمهوري نظام له ړنګېدو او د طالبانو له بيا واکمنېدو وروسته نيول شوي دي او يا د هغو رسنيو تور چې تړل شوي او د فعاليت مخه يې نيول شوې ده، همدا له تبعيدي رسنيو سره همکاري ګڼل کېږي.

دا خبرداری په لومړيو کې خبريالانو او رسنيو ته ډېری وخت په شفاهي ډول رسول کېده، خو په ۱۴۰۳ کال کې په رسمي ډول اعلان شوه، چې له تبعيدي رسنيو سره کار کول منع دي. د واکمنې ادارې د اطلاعاتو او کلتور وزارت وياند خبيب غفران د ۱۴۰۳ کال د غويي په ۱۹مه نېټه د «افغانستان انټرنيشنل» تلويزيون، چې له لندن څخه افغانستان ته خپرونې کوي، د «د وګړو او حقوقي اشخاصو د حريم په نقض، شخصيت وژنې، د معلوماتو تحريف او د قومي، ژبني او سمتي تعصباتو په دودولو» تورن کړ او ويې ويل، چې د افغانستان انټرنيشنل راډيو او تلويزيون د خپرونو «منځپانګه» او «د وياندويانو چلند» د « افغاني او ديني ارزښتونو خلاف دی» او دا رسنۍ «د نظام [طالبانو] پر ضد او د طالبانو د مخالفانو په ګټه تبليغات کوي». غفران له کارپوهانو، شننونکو او د هېواد دننه خبريالانو وغوښتل، چې له دې رسنۍ سره په خپرونو کې له ګډون او هر ډول همکاريو څخه ډډه وکړي. په کابل کې باخبره سرچينو د افغانستان د خبريالانو مرکز ته وويل، چې دا بنديز د آمو تلويزيون، هشت صبح آنلان ورځپاڼې او اطلاعات روز سربېره نورې تبعيدي رسنۍ هم رانغاړي.

### ۱٤: د هلمند او کندهار په سيمه‌ييزو رسنيو کې د ښځو د غږ پر خپرولو بنديز

د ښځو د غږونو خپرول د ۱۴۰۰ کال په زمري مياشت کې د طالبانو له بيا واکمنېدو سره سم، په ځينو ولايتونو کې په غير رسمي ډول بند شول، خو ياد بنديز ورو ورو نور هم پراخ شو. دا بنديز د لومړي ځل لپاره په هلمند کې په رسمي ډول ولايتي رسنيو ته ابلاغ شو. په هلمند ولايت کې د واکمنې ادارې د اطلاعاتو او کلتور رياست د ۱۴۰۲ کال د زمري په لومړۍ نېټه د دې ولايت له رسنيو وغوښتل، څو د ښځو د غږ له خپرولو ډډه وکړي. دا بنديز د ښځو په غږ هر ډول ژوندۍ او ثبت شوې خپرونو خپرول رانغاړي. په سيمه ييزو رسنيو کې د ښځو د غږ خپرولو په تړاو په وروستي رسمي اقدام کې، د قندهار ولايتي ادارې د ۱۴۰۳ کال د کب په ۲۸مه د دې ولايت رسنيو ته په يوه رسمي مکتوب کې په رسنيو کې د ښځو د غږ خپرول په مطلق ډول منع اعلان کړل.

### ۱۵: د «پردیو اصطلاحاتو» نه کارولو ته د رسنیو اړ ایستل

د واکمني اداري [د اطلاعاتو او کلتور وزارت](#) پخواني سرپرست وزیر ملا خیرالله خیرخواه د ۱۴۰۲ کال د لیندۍ په ۱۸مه له رسنیو وغوښتل، څو د هېواد د «ملي هویت ساتنې» لپاره د «پردیو اصطلاحاتو» له کارولو څخه ډډه وکړي. د افغانستان د خبریالانو مرکز ته باخبره سرچینو وویل، چې د دې لارښووني موخه په ځانګړي ډول د ځینو رسنیو هغه پروګرامونه او تولید شوي منځپانګه ده، چې په فارسي ژبه خپرېږي او واکمنه اداره د هغو یو شمېر فارسي اصطلاحاتو او کلمو د کارولو پر وړاندې حساسه ده، چې هغه د «ملي اصطلاحاتو» سره په ټکر کې بولي. خیرخواه ورته مهال د هېواد د ټولیزو رسنیو قانون دوو مادو ته په اشارې، چې د دیني، اخلاقي او ټولنیزو ارزښتونو په ساتنه ټینګار کوي، له راډیوګانو او تلویزیونونو وغوښتل، څو د لمانځه پنځه وخته اذانونه خپاره کړي او د اسلامي مناسبتونو، په ځانګړي ډول د روژې مبارکې میاشتې حرمت وساتي.


دافغانستان اسلامي امارت

دکورنیو چارو وزارت

معاونیت اول لمریٔ مرستیالتوب

دکندهارولایت دفتر ریاست

ګڼه ۵۳۹/ج ۲ نېټه ۱۴۴۵/۸/۷

بسم الله الرحمن الرحیم

دکندهارولایت وټولو ملکي اونظامي مسئولینوته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په ټولو دیني چاروکي موفق اوسئ

ددغه مکتوب په رسېدلوسره تاسو ټولومحترمینوته هدایت کول کیږي چي دآئینده لپاره په خپلورسمي اوغیررسمي مجلسونوکي د ذی روح تصویراخستلواوعکاسي کولوڅخه اجتناب وکړئ ځکه ددغه کرنوضررترګته زیات دي . دخپلوفعالیتونو راپورونه په تحریري اوصوتي (ادیو) شکل سره نشرته سپارئ .

مکتوب دابلاغ دنېټي څخه نافذ دي باید هرڅوک یې په خپله اداره کي عملي کړي.

کندهارولایت سرپرست والي

الحاج ملامحمد شرین اخند

AFJC

### ۱۶: په کندهار ولایت کې د واکمنې اداري د چارواکو له رسمي ناستو څخه په انځور او ویډیو اخیستنې بندیز

په کندهار ولایت کې د واکمني اداري سرپرست والي ملا شرین آخند د ۴۰۲ کال د سلواغې په ۲۹مه د یاد ولایت په رسمي ناستو کې [د انځور او ویډیو اخیستل](#) منع کړل. هغه له سیمه‌ییزو مسؤولینو وغوښتل څو خپل کاري راپورونه په لیکلي او غږیزه بڼه خپاره کړي.

## ۱۷: په خوست ولایت کې له رسنیو سره د نجونو او ښځو پر ټیلیفوني اړیکو بندیز



د افغانستان اسلامي امارت
دکورنیوچاروو وزارت
د خوست ولایت امنیه قومندانی
د جنايي جرمونو پر وړاندې د مبارزې ع مدیریت
د تحلیل ارزیابی امریت

د خوست ولایت د اطلاعاتو او کلتور محترم ریاست ته !
اسلام علیکم ورحمته الله وبرکاته :

دا چه خوست ولایت یو سرحدي او ګڼ نفوسه ولایت دی چه ډیری خلک بی تعلیم یافته او باسواده دي له همدغې سببه زیات شمیر راډیو ګانی او ټلویزیونونه یکی فعالیت کوی ،چه په همدغه ولایت کی د ځینو راډیوګانو ځینې اخلاقي فساد ته لمن وهل کیږی ،چه ښه مثال یی د ځینو راډیوګانو ځینې ددرسي او نورو ټولنیزو خپرونو ...

په درنښت
دکوالحاج حافظ عبدالرشید «عمري»



د طالبانو له بیا واکمنېدو وروسته د لومړي ځل لپاره په خوست ولایت کې له رسنیو سره [د ښځو او نجونو پر ټیلیفوني اړیکو](#) د بندیز موضوع په رسمي ډول رسنیو ته ابلاغ شوه. په خوست ولایت کې د واکمنې اداري امنیه قومندانی د ۱۴۰۲ کال د کب په ۵مه، د یوې کړنلارې په ابلاغ سره اعلان وکړ، چې د یاد ولایت له راډیوګانو او ټلویزیونونو سره د نجونو هر ډول ټیلیفوني اړیکې منع دي.

په خوست ولایت کې د واکمنې اداري امنیه قومندان عبدالرشید عمري، په یوه رسمي لیک کې رسنیو ته ویلي: «د خوست ځینې خصوصي راډیوګانې اخلاقي فساد ته لمن وهي، چې ښه بېلګه یې د ښوونځیو د درسونو خپرول او هغه ټولنیزې برنامې دي، چې په کې ډېرې نجونې برخه اخلي.» هغه په یاد لیک کې زیاته کړه چې: «له همدې درسي او ټولنیزو خپرونو څخه په ناوړه ګټه اخیستنې، نجونې په رسمي او غیر رسمي وختونو کې د خپرونو له چلوونکو سره غیر مشروع ټیلیفوني اړیکې ټینګوي، چې دا ډول اړیکې له یوې خوا ټولنه د اخلاقي فساد لور ته بیایي او له بلې خوا د اسلامي اصولو خلاف دي.»

نوموړي خبرداری ورکړ، چې که سیمه ییزې رسنۍ خپلو خپرونو کې د نجونو ټیلیفوني اړیکو ته زمینه برابره کړي، مسؤولین به یې را وبلل شي او د قانون منګولو ته به وسپارل شي.




**۱۸: د امر بالمعروف قانون او د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو د بندیز په څېر نوي بندیزونه**

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون له خپرېدو سره سم، د رسنیو او خبریالانو پر فعالیتونو کې باید او نه بایدونه نوي پړاو ته داخل شول. یاد قانون په یو ډول یو شمېر پخواني محدودیتونه تایید او ځیني نویو محدودیتونو ته قانوني بڼه ورکړه، چې باید پلي شي. د واکمنې اداري [عدلیې وزارت](#) د ۱۴۰۳ کال د زمري په ۳۱مه اعلان وکړ چې [د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون](#) د طالبانو د مشرتابه ملا هبت‌الله اخندزاده په فرمان ترتیب او توشیح شوی دی.

د یاد قانون په څلورمه ماده کې راغلي، چې دا قانون په ټولو ادارو، عامه ځایونو او پر هغو اشخاصو چې د افغانستان په قلمرو کې اوسېږي، تطبیقېږي. یاد قانون محتسبانو (د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت اجرایي ځواک یا اخلاقي پولیسو) ته «پراخ صلاحیتونه» ورکوي. د موضوع پراخوالی تر دې حده دی، چې محتسبانو ته دا اجازه ورکوي، څو د هېوادوالو پر چلند، جامو او ظاهري بڼه څارنه وکړي او د باید او نه بایدونو ورته وټاکي. په دې قانون کې ځیني محدودیتونه په ښکاره او ځیني په مبهم ډول ځای پر ځای شوي، چې کولای شي د رسنیو، خبریالانو او په ځانګړي ډول د ښځینه خبریالانو کار تر اغېزې لاندې راولي.

د دې قانون په ۱۷مه ماده کې په مبهمه توګه ویل شوي، چې محتسب مسؤلیت لري، څو د رسنیو مسؤولین مکلف کړي، چې د شریعت او مذهب خلاف مطالبو او هغو مطالبو له خپرولو، چې مسلمان ته د سپکاوي او توهین لامل کېږي، مخنیوی وکړي. دا موضوع روښانه نه ده او ممکن بېلابېل تفسیرونه ترې وشي او د رسنیو او ازادو خبریالانو د ځپلو لپاره زمینه برابره کړي. همدارنګه، د همدې مادې په بل بند کې محتسبانو ته اجازه ورکړل شوې، چې د هغو مطالبو له خپرولو مخنیوی وکړي چې د ذی‌روح (ژوندیو موجوداتو) انځورونه پکې وي.

سربېره پر دې، د قانون د دوه ویشتمې مادې په نهم بند کې، د «ځانګړو منکراتو» تر سرلیک لاندې راغلي چې محتسب دنده لري، څو له ټیپ (غږ ثبتوونکي وسیلي)، راډیو او ورته نورو وسایلو څخه د ناوړه استفادې او په کمپیوټر، موبایل او ورته وسایلو کې د ذی‌روح (ژوندیو موجوداتو) د انځورونو او فلم له اخیستلو او کتلو څخه مخنیوی وکړي. همدارنګه، د همدې مادې په لسم بند کې له کور څخه بهر یا په غونډو کې د ښځې د غږ یا موسیقۍ یادونه شوې او محتسب د هغې پر مخنیوي مکلف شوی دی. د همدې ماده کې په ۲۲ام بند کې، له نکتایي (چې په رسنیو کې هم کارېږي) څخه د «غیر شرعي نښې» په توګه یادونه شوې، چې محتسب یې باید مخنیوی وکړي. د یادو مواردو منځپانګه هم ناروښانه ده، خو د سرغړونکو لپاره یې جزا ټاکل شوې ده.

د یاد قانون په ۲۴مه ماده کې راغلي، هغه کس ته چې په ښکاره ډول منکر ترسره کړي، د ګناه ډول ته په کتلو لومړی د نصیحت، بیا وېرولو، تنبیه او په سختو لفظونو ګواښلو، د مال ضبطولو، له یوې تر درېیو ورځو پورې بند او په نورو هغو سزاوو چې محتسب یې مناسب وګڼي او د محاکمو لپاره ځانګړي نه وي، سزا ورکول کېږي. که چېرې په دې لارو اصلاح نه شو، بیا محکمې ته ورپېژندل کېږي.

د افغانستان د خبریالانو د مرکز موندنې ښيي چې د دې قانون د پلي کولو لپاره په هر ولایت کې د اړوندو چارواکو په ګډون ولایتي کمیټې جوړې شوې دي. په کابل کې د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت یو پلاوی په پرله‌پسې ډول له رسنیو سره ویني، د قانون جزئیات ور یادوي او له هغوی غواړي چې پلي یې کړي. دغه وزارت په غیر مستقیمه توګه سیمه‌ییز چارواکي هم تر فشار لاندې راولي، څو د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر قانون د پلي کولو لپاره اقدام وکړي.


رسمي جريده

• د امـــــر بالمـــعروف او نهـــی عن المنکر قانون
• د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

د خپرېدونېټه: د ۱۴۴٦ هــ.ق کال د محرم الحرام د میاشتې (۲۵)
د ۱۴۰۳ هــ.ش کال د زمري د میاشـــتې (۱۰)
پرله پسې نمبر (۱۴۵۲)

جريدهٔ رسمی

• قانون امر بالمـــعروف و نهـــی عن المنکر
• فرمـــان عالیقدر امیرالمـــؤمنین حفظه الله تعالی

تاریخ نشر: (۲۵) محرم الحرام سال ۱۴۴٦ هــ.ق
(۱۰) اسد سال ۱۴۰۳ هــ.ش
نمبر مسلسل (۱۴۵۲)

AFJC

**د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو بندیز او له وېډیویي مرکو څخه په ډډه کولو د واکمنې اداري د چارواکو اړ ایستل، د ۱۴۰۴ کال تر پایه لاندې پایلو ته ورسېد:**

الف- ۲۵ ولایتونو ته د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو د بندیز پراختیا

د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو بندیز د ۱۴۰۲ کال د سلواغې له ۲۹مه په کندهار ولایت کې د ملي تلویزیون له بندېدو او راډیو ته اوښتو پیل شول او وروسته د هلمند په ګډون نورو ولایتونو ته وغځېد. د افغانستان د خبریالانو مرکز موندنې ښيي، چې د ۱۴۰۴ کال تر پایه یاد بندیز د ۳۴ ولایتونو له ډلې څخه په ۲۵ ولایتونو کې په رسمي ډول ابلاغ شوی دی. د دې لړۍ په پراخېدو په یادو ولایتونو کې د ملي تلویزیون ولایتي څانګې تړل شوي او یا راډیو ته اوښتي دي او سربېره پر دې خصوصي تلویونونه هم تړل شوي او یا په شدت محدود شوي دي. راډیو ګانې او لږ اندازه چاپي نشریې له دې وضعیت څخه بې برخې نه وې او اغیزمنې شوي دي. د دې محدودیت لمنه، مجازي ( آنلاین) فضا ته په ځانګړې ډول په فیسبوک او ایکس ( پخواني توېټر) کې مجازي پاڼو او پیغام رسوونکو برنامو لکه واتساپ چې د واکمنې اداري بنسټونه یې کاوري، هم پراخه شوې ده.




ب- د ژوندیو موجوداتو د انځورونو له خپرولو څخه د واکمني اداري د ۱۱ وزارتونو او بنسټونو ډډه کول

د افغانستان د خبریالانو مرکز ښیي، چې د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت په ۱۴۰۴ کال کې د ژوندیو موجوداتو د انځورونو خپرول د واکمني اداري بنسټونو ته هم غځولي دي. دا څېړنې ښيي، چې په کابل کې د واکمني اداري د ۳۱ وزارتونو یا خپلواکو ریاستونو له ډلې څخه په امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر، لوړو زده کړو، پوهنې، عدلیې، مالیې، ښار جوړونې، اوبو او انرژۍ، ښځو سره د مبارزې، تخنیکي تعلیماتو اداري، ستري محکمې او اداري اصلاحاتو وزارتونو او ادارو کې دا طرحه پلي کېږي او د یادو وزارتونو او ادارو چارواکي ډېر لږ د ژوندیو موجوداتو درلودونکي خبري منځپانګه خپروي او ډېر لږ وېډیويي مرکې او مصاحبې ترسره کوي.

بسم الله الرحمن الرحیم

د رسنیو له مسؤلینو او د سیاسي خپرونو له چلوونکو سره ناسته

هغه شیان چې د رسنیو مسؤلین او د خپرونو چونکي پرې مکلف دی.

۱ ــ د خبرو اترو خپروني به لایف نه وي بلکه ثبتي به وي.

۲ ـ کارپوهان به د نوي لیست مطابق راغواړي، په لیست له موجودو خلکو پرته د نورو خلکو را غوښتل منع دي.

۳ ــ که نوی کس خپروني ته رابلل کیږي چې لیستونو کې نه وي موجود د هغه په اړه به د نشراتو د څار له ریاست څخه اجازه اخلي.

۴ ــ د هره ورځ سهار به د هغه ورځې د سیاسي بحث د خپروني موضوع او میلمانه د نشراتو د څار له ریاست سره شریک کوي، او له اجازې وروسته به بحث جوړوي.

۵ ــ د نظام د پالیسیو، پریکړې او قوانین ننګول او په مسؤلینو بې ثبوته تنقید منع دی.

۶ ــ له بحث وروسته رسنیزه اداره، د اداري مشر، د خپروني چلوونکی او ادیتور مکلفیت لري چې په خپرونه کې موجود کمزوري نقاط، حساسیت پاروونکي خبرې او یا هم په اسلامي امارت او مسؤلینو شوي تنقیدونه او نیوکې ادیټ او له خپروني وباسي.

۷ ــ له پورته مواردیو څخه په تخلف په صورت د رسني عمومي مسؤل، نشراتي مسؤل، د خپروني چلوونکی، ادیتور او سیاسي شنوونکی هر په خپله برخه کې متخلف ګڼل کیږي او ورسره به اصولي چند کیږي.

۸ ــ رسنیزه تخطي به په رسنیزه شکل جبرانیږي.

AFJC

د واکمني اداري د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۱۴۰۳ کال د وږي ۳۱مه رسنیو ته یو اته مادهییزه کړنلاره ابلاغ کړه.

## ۱۹: په رسنیو کې د سیاسي او اقتصادي ژوندیو ګردي میزونو پر خپرولو بندیز

## ۲۰: د واکمنې اداري د قانونونو، پالیسیو او پرېکړو له ننګولو او پر چارواکو له نیوکې څخه د رسنیو ډډه کول

## ۲۱: رسنیو ته د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لوري د نا تایید شویو کارپوهانو پر بللو بندیز

د واکمني اداري د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۱۴۰۳ کال د وږي په ۳۱مه نېټه په کابل کې د یو شمېر رسنیو له مسؤولینو سره ناسته کې، یو اتهمادهییزه کړنلاره ابلاغ کړه. د دې کړنلارې درې مادې (۱، ۲ او ۵) نوې محدودیتونه اعلانوي. په دې کړنلاره کې ټینګار شوی، چې د رسنیو مسؤولین او د تلویزیوني خپرونو مخته وړونکي(مجریان) مکلف دي، چې دا موارد پلي کړي:

١- مرکې او بحثونه باید ثبت شي او په ژوندۍ بڼه خپاره نه شي؛

٢- خپرونکي باید د نوي لېست له مخې راوبلل شي، د هغو کسانو رابلل، چې نومونه یې په لېست کې ننشته، منع دي؛

٣- د هغو کسانو د رابللو لپاره چې نوم یې په لېست کې نشته، باید (د اطلاعاتو او کلتور وزارت) له پر رسنیو د څار ریاست څخه اجازه واخیستل شي؛

٤- هر سهار باید د سیاسي خپرونو او مېلمنو لېست له پر رسنیو د څار ریاست سره شریک شي او د یاد ریاست له تایید وروسته دي، د خپروني د جوړلو لپاره اقدام وشي؛

۵- د نظام (د طالبانو حکومت) د قوانینو، پالیسیو او پرېکړو ننګولو او همدارنګه له ثبوت پرته پر مسؤلینو نیوکه کول، منع دي؛

٦- د رسنۍ مسؤول، د رسنۍ اداره، د خبروني مخته وړونکی او اېډیټر(سموونکی) مکلف دي، چې له خپرېدو وروسته د ثبت شوي برنامي حساس ټکي، پر اسلامي امارت (طالبانو حکومت) او مسؤولینو نیوکې او نورې کمزورۍ حذف کړي؛

٧- که له پورته موادو څخه سرغړونه وشي، د رسنۍ عمومي رئیس، د نشراتو مسؤول، د خبروني مخته وړونکی، اېډیټر (تولیدوونکی/سموونکی) او سیاسي کارپوه (مېلمه) متخلف بلل کېږي او له هغوی سره به د اصولو له مخې چلند وشي؛

٨- رسنیزه تېروتنه باید په رسنیزه توګه جبران شي.

د افغانستان د خبریالانو مرکز د یاد شوي لېست کاپي ته هم لاسرسی پیدا کړی، چې ۶۸ کسان پکې شامل دي. په کابل کې د یو شمېر خصوصي تلویزیونونو مسؤولینو د افغانستان د خبریالانو مرکز سره په خبرو کې د دې ناستې منځپانګه او کړنلاره تایید کړې ده.

د دې کړنلارې له ابلاغ پنځه میاشتې وروسته، د واکمنې ادارې د اطلاعاتو او کلتور وزارت یو ځل بیا د طلوع نیوز، شمشاد، یک او ژوندون په ګډون په کابل کې یو شمېر تلویزیونونو ته د دې اتهمادبیز حکم د نه مراعت کولو، په تېره بیا د ژوندیو خپرونو د نشر په اړه، خبرداری ورکړ. د ۱۴۰۳ کال د سلواغې په ۱۱مه، په کابل کې د یو شمېر تلوېزیونونو مسؤولین اطلاعاتو او کلتور وزارت ته وروبلل شول او ورته وویل شول، چې نور باید سیاسي خپروني او بحثونه خپاره نه کړي. درې ورځې وروسته، ځینو تلویزیوني خبریالانو د افغانستان د خبریالانو مرکز ته وویل، چې دا حکم حتا اقتصادي بحثونه هم رانغاړي، هغه بحثونه چې د طالبانو حکومت تر پوښتنې لاندې راولي او شخصي تلوېزیونونه اړ شوي دي، چې دا حکم پلي کړي. مسؤولینو ته ویل شوي چې د اړتیا په صورت کې کولای شي یوازې د حکومتي ادارو له ویاندویانو سره خبرې وکړي.

په کابل کې د یوه خصوصي تلوېزیون خبریال د ۱۴۰۳ کال د لیندۍ په لومړۍ نېټه وویل، چې په ځینو مواردو کې یې له لېست څخه بهر کسان هم رابللي دي، خو استخباراتو خبرداری ورکړی چې په [سیاسي یا اقتصادي ګردي مېزونو](#) کې باید د واکمن نظام دننۍ ستونزې او ساختاري اختلافات تر بحث لاندې ونه نیول شي. هغه وویل چې اجازه نه لري له سیاسي مخالفانو یا د واکمنې ادارې له اپوزیسیون سره مرکه او یا خبرې وکړي. د ده په وینا، سربېره پر دې، خبرداری ورکړل شوی، چې د ملګرو ملتونو د استازولۍ (یوناما) او د امنیت شورا هغه راپورونه چې د افغانستان امنیتي ستونزې بیانوي یا د طالبانو د چارواکو د بندیزونو د څارنې د کمېټې راپورونه، خپور نه کړي. نوموړي زیاته کړه چې له خلکو سره ځانګړې مرکې، یا په هغو موضوعاتو لکه د نجونو د لوړو پر زده‌کړو بندیز یا له کوره بهر د ښځو پر کار د محدودیتونو په تړاو راپورونه هم، چې واکمنه اداره تر پوښتنې لاندې راولي، منع دي.

### ۲۲: د واکمنې ادارې وژل شویو چارواکو ته پر «شهید» ویلو اړ ایستل

په ۱۴۰۳ کال کې، په جګړو کې د واکمنې ادارې د چارواکو او وژل شویو ځواکونو لپاره د «شهید» کلمې د کارولو لپاره پر رسنیو فشارونه زیات شول. یاده موضوع د ۱۴۰۳ کال د لیندۍ په ۲۱مه کله چې د واکمنې ادارې د کډوالو چارو وزیر [خلیل الرحمن حقاني](#) په کابل کې په یوه چاودنه کې ووژل شو، برسېره شوه. په کابل کې د یو شمېر رسنیو مسؤولینو د افغانستان د خبریالانو مرکز ته وویل، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت او استخباراتو ادارې له لورې په دې برخه کې تر فشار لاندې راوستل شوي او حتی ځینو رسنیو د خپل خپور شوي خبر متن سم کړی او د شهید کلمه یې ور زیاته کړې ده.



اطـلاعـات او فرهنـــګ وزارت
کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست
اطلاعاتو آمريت

د کندهار راډيوګانو لپاره لازمي لارښووني!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!

۱- د راډيوګانو په خپرونو او راپورونو کي بايد د افغانستان اسلامي امارت د زعيم لپاره "عاليقدر اميرالمومنين حفظه الله" عنوان او د حکومت لپاره د اسلامي امارت عنوان وکارول سي.

۲- په راډيوګانو کي د ښځو ږغ په مطلق ډول بند دی، او په تشريحي خپرونو کي د ښځو پيغامونه خپرول او نشرول هم منع دي.

۳- د هر ډول دواپانو، ارايشي کريمونو او پوډرونو، د کلينيکونو او دواخانو اعلاناتو نشرول د صحت عامې رياست د رسمي تاييد پرته منع دي.

۴- د راډيوګانو کار کوونکي چي د راپورنو او خپرونو د ثبت لپاره د کندهار ښار او ولسواليو ته سفر کوي، بايد د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست رسمي اجازه ليک ولري.

درنښت

کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست

AFJC

د کندهار ولايت راډيو ګانو ته د ياد ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست کړنلاره، ۱۴۰۳ د کب ۲۸مه

## ۲۳: د طالبانو مشر لپاره د القابو په کارولو اړ ايستل او په کندهار کې له اجازې پرته پر راپور جوړولو بنديز

په کندهار ولايت کې د واکمنې ادارې د اطلاعاتو او کلتور رياست د ۱۴۰۳ کال د کب په ۲۸مه په يوه رسمي ليک کې رسنيو ته نوي محدوديتونه ابلاغ کړل. په دغه ليک کې د «د کندهار راديوګانو لپاره لازمي لارښوونې» تر سرليک لاندې څلور نوې لارښوونې په لاندې ډول بيان شوې دي

۱- د راډيو ګانو په خپرونو او راپورونو کې بايد د افغانستان اسلامي امارت د زعيم لپاره «عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله» عنوان او د حکومت لپاره د اسلامي امارت عنوان وکارول شي؛


۲- په راډيو ګانو کې د ښځو غږ په مطلق ډول بند دی او په تفريحي خپرونو کې د ښځو پيغامونه خپرول او نشرول هم منع دي؛

۳- د هر ډول دواپانو، آرايشي کريمونواو پوډرونو، د کلينيکونو او درملتونونو د اعلاناتو نشرول د عامې روغتيا رياست له رسمي تاييد پرته منع دي؛

٤- د راډيوګانو کارکوونکي چې د راپورونو او خپرونو د ثبت لپاره د کندهار ښار او ولسواليو ته سفر کوي، بايد د کندهار ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست رسمي اجازه ليک ولري.

په کندهار کې پر دې محدوديتونو ( په ځانګړې ډول د ښځو لپاره) سربېره په ځينو لويو ښارونو لکه کابل، جلال‌اباد، هرات او مزارشريف کې لا هم ځينې ښځې کولای شي په رسنيو کې کار وکړي يا له ليرې همکاري وکړي. خو له دې پرته، په ډېرو نورو ولايتونو کې پر رسنيو فشار راوړل کېږي چې د واکمنو چارواکو لپاره مذهبي او تشريفاتي القاب وکاروي،سربېره پر دې، په ټولو ولايتونو کې د راپور جوړولو او مرکې اخيستلو لپاره رسمي اجازه او مخکنۍ همغږي اړينه بلل کېږي او خبرياﻻن اړ دي چې د واکمنې ادارې هغو سرو کرښو او مبهمو ټکو ته پام وکړي، چې د ملي ګټو او اسلامي ارزښتونو تر عنوان لاندې تعريف شوې دي.

بهرني خبريالان چي له افغانستانه د راپور جوړولو اراده لري، بايد مخکي له مخکي خپله غوښتنه د واکمني اداري بهرنيو چارو وزارت ته وسپاري او څرګنده کړي چي د کومي موضوع په اړه راپور جوړوي. يوه سيمه‌ييز خبريال چي له يو شمېر بهرنيو خبريالانو سره يي کار کړی، ويلي چي که د راپور موضوع د طالبانو د حکومت د خوښي موضوع، لکه «د امنيت ښه والي» يا «د ښارونو او لارو د رغوني» په تړاو وي نو اجازه ورکول کېږي، خو که موضوع ورته د منلو نه وي، مياشتي مياشتي يي غوښتني بي ځوابه پاتي کېږي او ورته ويل کېږي چي غوښتنه تر څېړني لاندې ده.





د افغانستان د نوري فايبر شبکه

## ۲٤: له «منکراتو څخه د مخنيوي» په موخه د انټرنټ پرې کول

د ۱۴۰۴ کال د تلي په ۷مه د طالبانو د حکومت مشرتابه ملا هبت الله اخندزاده په امر په هېواد کي د نوري فايبر انټرنټ پرې شو. په پيل کي دا کار په بلخ کي وشو او وروسته ټول هېواد ته وغځېد.

په بلخ کي د واکمني اداري د والي وياند حاجي زيد، د وږي په ۲۴مه د اکس(ټويټر) په يو پوست کي اعلان وکړ، چي په ياد ولايت کي د طالبانو د مشرتابه د حکم پر بنسټ نوري فايبر انټرنټ پرې شوی دی. هغه زياته کړه، چي ياد اقدام له «منکراتو څخه د مخنيوي» په موخه ترسره شوی او د اړينو اړتياوو د پوره کولو لپاره په هېواد کي دننه بديلي لاري په پام کي نيول شوي دي.




د ایترنټ څارونکي سازمان «نټ بلاکس» راپور ورکړی چې په افغانستان کې د ۴۸ ساعتونو لپاره انټرنټ په بشپړ ډول پرې و

د هېواد په کچه د انټرنټ پرې کېدلو دوه ورځې وخت واخیست او د تلې په ۹مه نېټه بېرته وصل شو او عادي وضعیت ته راوګرځېد. د انټرنټ د پرې کېدو پر اقتصادي پایلو سربېره، یو لوی منفي اغېز دا وه، چې انلاین اطلاعاتو ته د خلکو لاسرسی محدود شو او د هېواد دننه رسنیز فعالیتونه له جدي ګډوډۍ سره مخ شوي وو.

ځینو رسنیو راپور ورکړ، چې د ۱۴۰۴ کال د وږي میاشتې په منځ کې د یو شمېر لویو ولایتونو لکه ننګرهار، بلخ، کندهار او هرات والیانو په ناسته کې، چې د طالبانو د مشرتابه په شتون کې په کندهار کې ترسره شوې وه، [د انټرنټ د پرې کولو پرېکړه](#) وشوه. وروسته له هغې د طالبانو مشرتابه د مخابراتو وزارت له چارواکو وغوښتل څو انټرنټ فلټر شي، څو د منځپانګې په فیلټر کولو او د کارکوونکو د لاسرسي په محدودولو کې د یاد وزارت د پاتې راتلو په پایله کې ملا هبت الله امر وکړ څو انټرنټ په بشپړه توګه قطع شي.



رسنیزو سرغړونو او شکایتونو ته د رسېدنې کمیسیون ناسته. سرچینه د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۴۰۴ د تلې ۲۰مه

## د رسنیزو شکایتونو او سرغړونو د څېړنې او معلوماتو ته د لاسرسي لپاره حقوقي او قانوني چوکاټونه

د طالبانو تر راتګ وړاندې، په اسلامي جمهوري نظام کې د تولیزو رسنیو د قانون پر بنسټ، رسنیزو سرغړونو او شکایتونو ته د رسېدنې کمیسیون جوړ شوی و او صلاحیت یې درلود، څو سرغړونکې رسنیو او خبریالانو ته له احوالو سره سم توصیه، خبرداری او یا د تعقیب په موخه عدلي او قضایي ارګانونو ته وروپېژني، څو په دې توګه رسنیزو شکایتو او سرغړونو ته له قانوني لارې څخه د رسېدنې ترڅنګ، د بېلابېلو عناصرو له لارې د رسنیو او خبریالانو د ګواښلو او مستقیمې مداخلې مخه ونیسي.

رسنیزو سرغړونو او شکایتونو ته د رسېدنې کمیسیون د ۱۴۰۰ کال د زمري په ۲۴مه د جمهوري نظام له ړنګېدو وروسته له فعالیت پاتې شو، خو یو کال وروسته د ۱۴۰۱ کال د وري په لومړۍ نېټه یې له نویو غړیو سره بېرته په فعالیت پیل وکړ. د دې کمیسیون غړي چې باید د تولنیزو رسنیو له قانون سره سم باید د ښځو په ګډون ۱۱ کسه وي، له ۱۷ نارینه غړو څخه جوړ دی، چې د واکمنې اداري د اطلاعاتو او کلتور وزیر یې د رئیس او د یاد وزارت پنځه چارواکي، د عدلیې وزارت استازی، د امر بالمعروف وزارت استازی، د استخباراتو استازی، د کابل پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي استازی، د خبري بنسټونو څلور استازي او د رسنیو درې استازي یې د غړو په توګه دي.

د واکمنې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ویب سایټ، چې رسنیزو سرغړونو او شکایتونو ته د رسېدنې کمیسیون خبرونه خپروي په ۱۴۰۴ کال کې د یاد کمیسیون له پنځه ناستو خبر ورکړی، چې ډېر تمرکز یې رسنیزو شکایتونو ته پر رسېدنه دی او د واکمنې اداري د بنسټونو له لوري د خبریالانو او رسنیو له حقونو څخه د سرغړونې پېښه نه لیدل کېږي.

د افغانستان د خبریالانو مرکز څېړنې ښیي، چې استخبارات او امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت د رسنیزو سرغړونو او شکایتونو ته رسېدنې کمیسیون صلاحیتونو ته په بې پامۍ د هغو رسنیو او خبریالانو پر وړاندې اقدام کوي، چې سرغړونه یې کړې وي، چې یادو اقداماتو کې ګواښ، خبرداری، د خبریالانو نیول او د رسنۍ ترل شامل دي.

رسنیزو سرغړونو او شکایتونو ته د رسېدنې کمیسیون یوه غړي د افغانستان د خبریالانو مرکز سره په خبرو کې روښانه کړه، چې د یاد کمیسیون صلاحیت ډېر محدود دی او استخبارات او امر بالمعروف وزارت په خپلواکه توګه عمل کوي او کمیسیون ته ځواب ویونکي نه دي.

## په ۱۴۰۴ کال کې د خبریالانو او رسنیو له حقونو څخه د سرغړونې شمېرې

د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر په قانون کې د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو له بندیز پرته، په هېڅ رسنیزه کړنلاره کې چې وړاندې مطرح شوې، د خبریالانو او رسنیو له لورې یې د نه پلې کولو په صورت د پایلو په تړاو څه نه دي ویل شوي، ورته مهال د افغانستان د خبریالانو مرکز موندنې ښیي، هغه خبریالانو چې دا کړنلارې یې نه دي پلې کړې ګواښل شوي او یا بندي شوي دي او یا رسنۍ له تنبیهي اقداماتو لکه په لنډ مهاله یا دایمي توګه له فعالیت پاتې کېدو سره مخ شوي دي.

| په ۱۴۰۴ کال کې د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د تاوتریخوالي، نیونو او ګواښ پېښې | |
|---|---|
| د تاوتریخوالي پېښې | ( پاکستاني ځواکونو ته منسوب شوی برید کې) د دوه تنو وژل کېدل او یو تن ټپي کېدل |
| نیونې | ۲۱ پېښې: له یو ساعت څخه تر یوې ورځې او څو میاشتو پورې د بندي کېدلو په ګډون |
| ګواښ | ۱۸۳ پېښې |
| ټولې پېښې | ۲۰۷ پېښې |

### پنځه تنه هغه خبریالان او رسنیز فعالان چې په بند محکوم شوي دي او د دې راپور د خپرېدو تر نېټې ( د کب ۲۷ پورې لاهم په بند کې دي:



۱- د اطلاعات روز ورځپاڼې خبریال، حمید فرهادي

د نیول کېدو نېټه: کابل، ۱۴۰۳ د وږي ۱۳مه

وضعیت: د طالبانو واکمنې اداري حمید فرهادي په هېواد کې د ښځو او نجونو د وضعیت په تړاو د راپورونو د خپرولو له امله د طالبانو د حکومت پر وړاندې د تبلیغاتو په تور په دوه کاله بند محکوم کړ، فرهادي اوس مهال په بګرام کې بندي دی.




۲- «افغان خبري آژانس» (افکا) خبریال، مهدي انصاري

د نیول کېدو نېټه: کابل، ۱۴۰۳ د تلې ۱۴مه

وضعیت: د واکمني اداري استخباراتو ته نږدې نشریې « هندوکش غږ» د ۱۴۰۴ کال د تلې په ۱۰مه نېټه د مهدي انصاري د اعترافونه وېډیو خپره کړه. روښانه نه ده چې دا اعترافونه په څه وضعیت کې اخیستل شوي دي، خو استخباراتو د دې وېډیو په توضیحاتو کې لیکلي و، چې مهدي انصاري د واکمن نظام پر وړاندې د « زهرجنو تبلیغاتو» او د هشت صبح او افغانستان انټرنشنل په ګډون مغرضو بهرنیو رسنیو سره د همکارۍ په تور نیول شوی دی، انصاري په یو نیم کال بند محکوم شوی او اوس مهال په بګرام کې بندي دی.




۳- د «توانا خبري اژانس» او « د افغانستان رسنیز بنسټ» مسؤول مدیر، ابوذر صارم سرپلي

د نیول کېدو نېټه: کابل، د ۱۴۰۴ د زمري ۲مه

وضعیت: د واکمني اداري د استخباراتو ریاست په جاسوسي او اخلاقي فساد د سرپلي له تورنولو وروسته د ۱۴۰۴ کال د زمري په ۹مه د هغه د اعترافونو وېډیو خپره کړه. روښانه نه ده، چې دا اعترافونه په څه وضعیت کې اخیستل شوي دي. سرپلي په زندان محکوم شوی دی، خو جزئیات یې د امنیتي ملحوظاتو له امله په راپور کې نه دي ځای پرځای شوي.



٤- ازاد خبریال او د « افغانستان د خبریالانو او رسنیو فدراسیون» د مدیره پلاوي غړی، بشیر هاتف

د نیول کېدو نېټه: کابل، ۱۴۰۴ د زمري ۲مه

وضعیت: بشیر هاتف له ابوذر صارم سرپلي سره یوځای په کابل کې د استخباراتو له لوري ونیول شو.

د بشیر هاتف د تورونو جزئیات نه دي خپاره شوي، خو یوې سرچینې وویل چې هغه د ښځینه خبریالانو د ملاتړ لپاره له نړیوالو بنسټونو څخه د پروژو په اخیستلو تورن او په بند محکوم شوی دی. د دې پېښې لا زیات جزئیات د امنیتي ملحوظاتو له امله نه دي ځای پر ځای شوي.



٥- د جاپان د (NTV) تلویزیون خبریال، شکیب احمد نظري

د نیول کېدو نېټه: کابل، ۱۴۰۴ د زمري ۲مه

وضعیت: شکیب احمد نظري له ابوذر صارم سرپلي او بشیر هاتف سره یوځای په کابل کې د استخباراتو له لوري ونیول شو. استخباراتو د نظري د اعترافونو ویډیو خپره کړه او هغه یې تورن کړ چې د بشري حقونو په برخه کې د ښځو د اعتراضونو او لاریونونو راپورونه د جاپان ( NTV) او هشت صبح ورځپاڼي، چې په جلا وطنی کې د افغانستان وضعیت ته پوښښ ورکوي، په ګډون بهرنیو رسنیو ته ورکړي دي. نظري د ۱۴۰۴ کال د لیندی په ۱۲مه په کابل کې د استخباراتو ریاست د نظامي محکمي له لوري په دري کاله بند محکوم شو او اوس مهال بندي دی.

د ګواښ هغه څرګنده پېښې چې په ۱۴۰۴ کال کې د خبریالانو او رسنیو له حقونو څخه د جدي سرغړونې لامل شوي دي:

| الف)هغه رسنۍ چې د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو د بندیز له امله تړل شوي او یا راډیو ته اووښتي دي | |
|---|---|
| د تلویزیون نوم او د فعالیت ځای | د فعالیت د ودرېدو نېټه |
| ۱- ملي تلویزیون- نیمروز | ۱۴۰۴ د وري ۷مه |
| ۲- برنا خصوصي تلویزیون- نیمروز | ۱۴۰۴ د وري ۷مه |
| ۳- یوولس خصوصي تلویزیون- نیمروز | ۱۴۰۴ د وري ۷مه |
| ٤- ملي تلویزیون- بدخشان | ۱۴۰۴ د وري ۷مه |
| ٥- ملي تلویزیون - بغلان | ۱۴۰۴ د وري ۷مه |
| ٦- ملي تلویزیون - جوزجان | ۱۴۰۴ د وري ۲۱مه |
| ۷- غزل تلویزیون - جوزجان | ۱۴۰۴ د وري ۲۱مه |
| ۸- ملي تلویزیون - زابل | ۱۴۰۴ د وري ۲۱مه |
| ۹- ملي تلویزیون - پروان | ۱۴۰۴ د وري ۲۱مه |
| ۱۰- ملي تلویزیون - کندوز | ۱۴۰۴ د وري ۲۷مه |
| ۱۱- ملي تلویزیون - بامیان | ۱۴۰۴ د غويي ۳مه |
| ۱۲- ملي تلویزیون – دایکندي | ۱۴۰۴ د غويي ۱۰مه |
| ۱۳- ملي تلویزیون - فاریاب | ۱۴۰۴ د غويي ۱۰مه |
| ۱٤- ملي تلویزیون - پنجشیر | ۱۴۰۴ د غويي ۱۵مه |
| ۱٥- تلویزیون ملی- لغمان | ۱۴۰۴ د غبرګولي ۱۳مه |
| ۱٦- ملي تلویزیون - سرپل | ۱۴۰۴ د چنګاښ ۲۹مه |
| ۱۷- ملي تلویزیون - بلخ | ۱۴۰۴ د وري ۲۱مه |
| ۱۸- ملي تلویزیون - هرات | ۱۴۰۴ د تلې ۲۷مه |
| ۱۹- ملي تلویزیون - پکتیا | ۱۴۰۴ د لیندۍ ۲مه |
| ۲۰- ملي تلویزیون - روزګان | ۱۴۰۴ د مرغومي ۱۷مه |
| ۲۱- ملي تلویزیون - کاپیسا | ۱۴۰۴ د سلواغې ۹مه |

| ب) هغه رسنۍ او د خبریالي او رسنیز بنسټونه چې د واکمني اداري د رسنيزو سیاستونو د نه رعایتولو په تور تړل شوي او د بیا پرانیستلو وخت یې روښانه نه دی | |
|---|---|
| د رسنۍ/بنسټ نوم | د فعالیت د ودرېدو نېټه |
| ۱- توانا خبري اژانس، کابل | ۱۴۰۴ د زمري ۲مه |
| ۲- د افغانستان رسنیز بنسټ | ۱۴۰۴ د زمري ۲مه |
| ۳- د افغانستان د خبریالانو او رسنیو د بنسټونو فدراسیون | ۱۴۰۴ د زمري ۲مه |
| ٤- نسیم راډیو، نیلي، دایکندي | ۱۴۰۴ د زمري ۱۵مه |
| ٥- راه فردا تلویزیون،کابل | ۱۴۰۴ د کب ۹مه |
| ٦- خوشحال راډیو، غزني | ۱۴۰۴ د کب ۱۳مه |

توانا خبري آژانس، د افغانستان رسنیز بنسټ او د افغانستان د خبریالي او رسنیزو بنسټونو فدراسیون د زمري په ۲مه د ابوذر صارم سرپلي له نیولو وروسته وتړل شول. سرپلي چې د یادو درېیو بنسټونو مسؤولیت یې پر غاړه درلود د واکمني اداري له لوري په جاسوسي او اخلاقي فساد تورن شوی دی؛ هغه تورونه چې د کورنۍ له لوري یې رد شوي دي. سرپلي له هغه وخت راهیسې تر دې دمه په زندان کې دی.

د بامیان نسیم راډیو چې د دایکندي ولایت د نسیم راډیو ولایتي څانګه ده، د هېواد د امنیتي وضعیت په تړاو د یوناما -په افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازولۍ- د راپور له خپرولو وروسته د طالبانو « حکومت پر ضد د تبلیغاتو» په تور وتړل شوه.

راه فردا تلویزیون هم وروسته له هغې چې د یادې رسنۍ خاوند پر افغانستان د پاکستان د وروستیو بریدونو اصلي لامل د طالبانو د واکمني اداري سیاستونه وبلل وتړل شو او اموال یې مصادره شول.

د واکمني اداري د اطلاعاتو او کلتور وزارت ویاند خبیب غفران، د کب په ۹مه په ایکس( پخواني تویټر) کې اعلان وکړ، چې د اسلامي امارت له لوري د راه فردا تلویزیون د نشراتو د درولو او د محمد محقق د املاکو د مصادرې پرېکړه له دې امله ترسره شوې، چې نوموړي د پاکستان د پوځي رژیم له لوري د افغان ملکي وګړو بمبار جایز بللی او د اسلامي امارت (د طالبانو حکومت) انتقامي بریدونه یې غندلي وو.»

نوموړي زیاته کړې: «محمد محقق د دښمن په لمسون هڅه کوله، چې د بې‌اساسه څرګندونو له لارې ملي یووالی وګواښي، له همدې امله د عامه افکارو او افغاني ټولنې د غوښتنې پر بنسټ، دا اقدام لازم او مناسب و.»

په کابل کې یوې باخبره سرچینې د افغانستان د خبریالانو مرکز ته ویلي، چې واکمني اداري پرون د دې تلویزیون مسؤلینو ته ویلي چې خپل فعالیتونه ودروي.

دا دوهم ځل دی، چې د راه فردا راډیو او تلویزیون فعالیت د واکمني اداري له لوري درول کېږي. تر دې وړاندې، د روان کال د غويي په ۹مه، د دې رسنۍ د کار جواز، د کارکوونکو له لوري د معاشونو د نه ورکړې او له هغوی سره د ګواښوونکي چلند په اړه د ګڼو شکایتونو له امله، د واکمني اداري د محکمې په حکم، وځنډول شو. خو شاؤخوا دوه میاشتې وروسته اعلان وشو، چې ستونزه حل شوې او تلویزیون ته بیا د فعالیت اجازه ورکړل شوې ده.

د خوشحال راډیو فعالیت د هغه څه له امله چې «له دیني، کلتوري او ټولنیزو ارزښتونو څخه د سرغړونه» بلل کېږي، د ولایتي فرهنګي کمېټې له خوا وتړل شوه او فعالیت یې وځنډول شو.

خو په غزني کې يوې سرچينې د افغانستان د خبريالانو مرکز ته وويل، چې خوشحال راډيو ډېرې تعليمي پروګرامونه خپروي او هغه نجونې، چې د واکمني ادارې د محدوديتونو له امله له منځنيو او لوړو زده کړو له حق څخه محرومې شوې دي، له دې خپرونو څخه ګټه اخلي. د نوموړې په وينا، ځينو نجونو د تعليمي پروګرامونو د ښه تعقيب او زده کړې لپاره له خوشحال راډيو سره ټيليفوني اړيکې نيولې، چې دې کار د واکمنې ادارې د چارواکو غوسه راپارولې وه.

د ښځو پر لوړو زده کړو د بنديز ترڅنګ، د نجونو له خوا له رسنيو سره ټيليفوني اړيکې هم سختې محدودې شوې دي او حتا په ځينو ولايتونو کې رسنيو ته په رسمي ډول خبر ورکړل شوی، چې د ښځو د غږ خپرول په بشپړه توګه منع دي.

| ج) هغه رسنۍ چې د واکمنو چارواکو په امر په موقت ډول وتړل شوې | |
|---|---|
| د رسنۍ نوم | د فعاليت د ودرېدو نېټه |
| ۱- نسيم راډيو-باميان | د وږي ۹مه- د ليندۍ ۴مه، ۱۴۰۴ |
| ۲- شمشاد تلويزيون، کابل | د تلې ۲۵ – ۲۷، ۱۴۰۴ |

په باميان کې د نسيم راډيو، چې د دايکندي ولايت د نسيم راډيو څانګه ده، د ۱۴۰۴ کال د وږي په ۹مه د يادې رسنۍ د مرکزي دفتر له تړل کېدو وروسته وتړل شوه. د دايکندي نسيم راډيو د هېواد د امنيتي وضعيت په تړاو د ملګرو ملتونو د سياسي استازولۍ ( يوناما) د راپور له خپرولو وروسته د طالبانو « حکومت پر وړاندې د تبليغاتو» په تور د استخباراتو له لوري وتړل شوه او کارکوونکي يې هم ونيول شول. په باميان کې د نسيم راډيو څانګه د ۱۴۰۴ کال د ليندۍ په ۴مه بېرته پرانيستل شوه خو مرکزي دفتر يې لا هم تړلی دی.

شمشاد تلويزيون په دې تور چې د واکمنې ادارې د امنيتي ځواکونو او پاکستاني نظاميانو ترمنځ وروستۍ جګړې او پر افغانستان د پاکستان بريدونو ته يې په سمه توګه پوښښ نه دی ورکړی او د طالبانو له دريځ او د پاکستان پر وړاندې له اقداماتو يې دفاع نه ده کړې، د استخباراتو له لوري وتړل شو. شمشاد له دوو ورځو وروسته د فعاليت اجازه ترلاسه کړه او په يوه بيانيه کې يې د مسلکي کار پر دوام او پر اسلامي او ملي ارزښتونو او ګټو د ټينګار ترڅنګ وويل، د واکمنې ادارې « د ادارو د قناعت ترلاسه کولو لپاره له پراخو هڅو» او « همکارۍ لاس ور غځولو، خو خپل فعاليت له سره پيل کړې.»

د) د خبريالانو او رسنيو د ملاتړ او د خبريالانو د روزنې هغه بنسټونو چې په ۱۴۰۴ کال کې يې د واکمنې ادارې وه لوري کاري جوازونه او يا اجازه ليکونه لغو شول

د واکمنې ادارې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۶مه په ايکس (پخوانۍ ټويټر) خپره شوې اعلاميه کې وويل: «د نهادونو کثرت او د نهادونو د مسؤلينو غير مسلکيتوب د خبريالانو او رسنيو د ستونزو د حل پر ځای هغوی ته لا ډېرې ستونزې زېږولې وې او په نړيواله کچه يې د افغانستان د رسنيزو نهادونو باور ته زيان رسولی دی.»

په اعلاميه کې راغلي، « يوازې د دريو رسنيزو بنسټونو جوازونه تمديد شوي او د نورو ټولو بنسټونو جوازونه لغوه شوي دي.» د واکمنې د اطلاعاتو او کلتور وزارت زياته کړې: «ياده پرېکړه به له يوې خوا د خبريالانو او رسنيو د حقونو تأمين سربېره د خبريالانو او رسنيو په نوم د ناوړه ګټې اخيستنې مخه ونيسي.»

د يوه هغه بنسټ مسؤول چې جواز يې لغوه شوی، د افغانستان د خبريالانو مرکز ته ويلي، چې د ده د جواز د لغوه کېدو موضوع د يوه رسمي ليک له لارې هغه ابلاغ شوې ده. د هغه په وينا، په ياد ليک کې چې د يکشنبې په ورځ، د سلواغې په ۵مه صادر شوی راغلي، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپلو اداري او اجرايي صلاحيتونو پر بنسټ د ياد بنسټ هر ډول فعاليت درولی، جواز يې د همدې ليک د صدور له نېټې لغوه بولي او هر ډول فعاليت يې منع اعلانوي.

نوموړي د وزارت د ادعا د ردولو ترڅنګ وويل، چې د دې بنسټ له کار څخه هېڅ ډول ارزونه نه ده شوې او د واکمنې اداري موخه دا ده چې هر څه تر خپل کنټرول لاندې راولي.

د افغانستان د خبرياﻻنو مرکز موندنې ښيي، چې دا پرېکړه هغه بنسټونه رانغاړي چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت څخه يې په ۱۴۰۰ کال کې د طالبانو له بيا واکمنېدو وړاندې، د جمهوري نظام پر مهال د فعاليت جوازونه ترلاسه کړي وو او د طالبانو د حکومت لهخوا د لګول شويو محدوديتونو له امله يې ډېرې د خبرياﻻنو او رسنيزو کارکوونکو د روزنې په برخه کې فعاليت کاوه. د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ځينو بنسټونو جوازونه نه وو غځولي خو بيايې هم د فعاليت اجازه درلودله. يوې سرچينې وويل، چې د «افغان د خبرياﻻنو د مصؤنيت کمېټې» چې جواز يې د جمهوري حکومت پر مهال صادر شوی او همدارنګه «د افغانستان د خبرياﻻنو او رسنيو د ملاتړ بنسټ» او «افغان مطبوعاتي مرکز» چې تازه جوړ شوي پرته د نورو رسنيزو او خبريالي بنسټونو جوازونه لغوه شوي دي. د يادو بنسټونو نومه او جزئيات د هغوی د مسؤولينو د ملاحظاتو له امله په راپور کې نه دي ځای پر ځای شوي.

### له ۱۴۰۳ کال سره په ۱۴۰۴ کال کې د رسنيو او خبرياﻻنو له حقونو څخه د ثبت شويو سرغړونو شمېرو پرتله

د افغانستان د خبرياﻻنو مرکز د رسنيو د ازادۍ څارونکي په ۱۴۰۳ کال کې د رسنيو او خبرياﻻنو له حقونو څخه د سرغړونې ۱۷۲ پېښې ثبت کړي وې، چې پکې د ۵۰ خبرياﻻنو د نيولو په ګډون، ۱۲۲ د ګواښونو پېښې شاملې دي.

په ۱۴۰۳ کال کې د ګواښ له ثبت شويو پېښو څخه ۱۸ يې د رسنيو د تړل کېدو يا هم د هغوی د فعاليت منع کېدو په تړاو دي. که څه هم په ۱۴۰۳ کال کې د نېونو شمېر د ۱۴۰۴ کال په پرتله ۲ پېښې کموالی ښيي، خو د تېرو ۱۲ مياشتو ټوليز ارقام د ۱۴۰۳ کال په پرتله د ۲۰ سلنه زياتوالي ښکارندويي کوي.

### د طالبانو له بيا واکمنېدو راهيسې له ۱۴۰۰ څخه د ۱۴۰۴ کال تر پايه د رسنيو او خبرياﻻنو له حقونو څخه د سرغړونو ټوليز شمېر

د افغانستان د خبرياﻻنو مرکز د طالبانو له بيا واکمنېدو راهيسې له ۱۴۰۰ څخه د ۱۴۰۴ کال تر پايه د رسنيو او خبرياﻻنو له حقونو څخه د سرغړونو شاوخوا ۸۰۰ پېښې ثبت کړې دي، چې پکې د ۱۴۰۰ کال د وږي په ۶مه په کابل هوايي ډګر کې د چاودنې له امله د رها خبر اژانس خبريال او د جهان صحت تلويزيون وياند د وژل کېدو، د ۱۴۰۱ کال د کب په ۲۰مه په مزار شريف کې د خبرياﻻنو پر راټولېدنې د يوې چاودنې په پايله کې د صدای افغان خبري اژانس د يو خبريال وژل کېدو او د ۱۴۰۴ کال د تلې په ۲۴ په خوست او کابل کې پاکستاني ځواکونو ته منسوب شويو بريدونو کې د ملي تلويزيون يو خبريال او يو کارکوونکي د وژل کېدو په ګډون د پنځو تنو خبرياﻻنو وژل کېدل، د خبرياﻻنو او رسنيزو کارکوونکو د نيولو ۲۸۰ او د تاوتريخوالي او ګواښ څه باندې ۵۰۰ پېښې شاملې دي.سربېره پر دې تېر کال اطلاعاتو ته لاسرسی هم د پخوا په پرتله لا ډېر محدود شو او رسنۍ په ځانګړي ډول د ښځينهوو رسنۍ د ۱٤۰۳ کال په پرتله لا ځنډې ته شوې.

### د طالبانو د واکمنې اداري د تبليغاتو او پروپاګندا سيستم د کار څرنګوالی

وړاندې د رسنيزو کړنلارو په برخه کې وويل شول، چې په ۱۴۰۴ کال کې د طالبانو سخت دريځه لوري د واکمنې اداري په جوړښت کې خپل ځواک نور هم پراخ کړی دی او د طالبانو په اصطلاح منځ لاره لوری يې، چې په «لېر بدلون» سره د جمهوري نظام د رسنيزو قانونونو د پلي کولو پلوي او د اوسنيو سختو سياستونو مخالف و، ځنډې ته کړی دی. دا لوری چې د طالبانو د ځواک اصلي او کلکه هسته ده، په کندهار کې د طالبانو د مشرتابه له پرېکړو پرته له ځنډه پلوي کوي، رسنۍ د طالبانو د حاکميت د کمزوري کولو په برخه کې د دښمن ابزار بولي او له همدې زاويې له هغوی سره چلند کوي. دا بهير د استخباراتو او امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت ــ د طالبانو د ځواک دوه غښتلو متو ــ له لوري مديريت کېږي او دا بهير له دوو لارو اطلاعاتو ته د لاسرسي محدودولو او د اطلاعاتو سانسور او د ازادو رسنيو د ګواښلو او تنبيه کولو له لارې پلي کوي او هڅه کوي خصوصي رسنۍ او خبرياﻻن په بشپړه توګه فرمان وړونکي او د واک پلوي کړي.

د ځینې د دې دستګاه ترڅنګ ګڼ شمېر رسمي او غیر رسمي جوړښتونه هم رامنځته شوي، چې د واکمنې اداري د تایید وړ رسنیزې منځپانګې او د یو اړخیزه روایتونو د تولید او د طالب چاروا کو د محبوبیت د دودولو په برخه کې کار کوي.

### د طالبانو د تبلیغاتي دستګاه رسمي جوړښت

د طالبانو د حکومت د تبلیغاتو او پروپاګندا رسمي جوړښت د اطلاعاتو او کلتور، کورنیو او دفاع وزارتونو او استخباراتو لوی ریاست تر پوښښ لاندې فعالیت کوي او ځو تلویزیوني او راډیو شبکې او آنلاین او ځو رسنیزه شبکې پکې شاملې دي، چې په ځو ژبو خبرونو او راپورته چمتو او خپروي. دا جوړښت د رسنیزې منځپانګې او د یو اړخیزه او مثبت روایت، چې پکې مخالف غږ نه وي، په تولید سره د هېواد دننه خلکو د پام رااړولو او ډېری بهرني ځارونکو ته رسېدنې په هڅه کې دی. لاندې هغه رسنۍ چې څرنګوالی یې د افغانستان د خبریالانو مرکز د سرچینو له لوري تایید شوی، ځای پر ځای شوي دي.

هغه رسنۍ چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت تر پوښښ لاندې فعالیت لري:

۱- په کابل کې ملي راډیو او تلویزیون او په ۳٤ ولایتونو کې د ځانګو په درلودلو سره په پښتو او فارسي ــ دوو ملي ژبو ــ خپروني کوي. که څه هم د د دې رسنۍ تلویزیوني ځانګه د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو د بندیز له امله په ۲۵ ولایتونو کې تقریباً غیر فعاله شوې ده او سیمه‌ییزې خپروني نه لري، خو په کابل کې یې مرکزي برخه پراخه شوې ده او ملي راډیو د هېواد په کچه د لاسرسي وړ ده او خبرونه، راپورونه، سیاسي او ټولنیزې خپروني او د حکومتولۍ، ډیپلوماسي او واکمنې اداري د بریالیتوب په تمرکز سره مشاعرې خپروي. یاده رسنۍ په انلاین فضا کې هم فعاله ده او په عربي او انګلیسي ژبو هم منځپانګه تولیدوي.




په هرات ولایت کې د شریعت غږ راډیو د فعالیت پرانیسته. د انځور سرچینه: ملي راډیو او تلویزیون، ۱۴۰۳ د وري ۲۸مه

۲- شریعت غږ راډیو: دا رسنۍ د طالبانو د واکمنۍ په لومړۍ دوره (په ۷۰ لمریزه لسیزه کې) جوړه شوې وه او شل کاله وروسته د طالبانو واک ته په بیا راستنېدو یې خپل فعالیت له سره پیل کړ.
۳- شریعت ورځ پاڼه: ادا ورځ پاڼه چې د طالبانو د واکمنۍ پره لومړۍ دوره کې جوړه شوې وه، د ۱۴۰۰ کال د لړم په ۱۲مه د یو ۲۰ کلن ځنډ وروسته بیاځلي په فعالیت پیل وکړ. یاده ورځ پاڼه آنلاین برخه هم لري او ډېری خپروني یې په پښتو ژبه دي.

٤- باختر خبري اژانس، چي په ۱۳۱۸ کې جوړ شوی دی، په کابل کې د شاوخوا لسګونو کارکوونکو او په ۳۴ ولایتونو کې د فعاله استازولیو په درلودو سره فعالیت کوي او په تېرو څلورو کلونو کې يې فعالیت پراخ شوی دی. یاد خبري اژانس چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت تر چتر لاندې کار کوي د طالبانو حکومت رسمي خبري سرچینه ده او د فارسي، پښتو، انګلیسي، اردو، عربي، ازبیکي، روسي، چیني(ماندارین) او فرانسوي په ګډون په ۹ ژبو فعالیت کوي او د تویټر، فیسبوک، انستاګرام، تلګرام او یوتیوب په ګډون په ټولنیزو رسنیو کې فعاله حضور لري.

٥- همدارز د اطلاعاتو او کلتور وزارت په پښتو ژبه هېواد، په فارسي ژبه انیس او انګلیسي ژبه کابل ټایمز ورځپاڼې په چاپي او انلاین بڼه خپروي، چې لسګونه کاله مخکې جوړې شوي دي. یاد وزارت په هر ولایت کې د اوونیزې او میاشتنۍ په چوکاټ کې خپرنۍ (نشریې) هم لري او یادې نشریې په مجازي فضا کې هم فعالیت لري.

د کورنیو چارو وزارت راډیویي شبکه:

پولیس راډیو: یاده راډیو، چي د جمهوري نظام په وخت کې تاسیس شوې وه، ډېری د کورنیو چارو وزارت او پولیسو اړوند خبرونو ته پوښښ ورکړي او د تویټر، فیسبوک، انستاګرام، تلګرام او یوتیوب په ګډون په ټولنیزو رسنیو کې فعاله حضور لري.

د دفاع وزارت راډیويي شبکه:

امید راډیو: یاده راډیو چې د جمهوري نظام پر مهال تاسیس شوې وه، د واکمني اداري د دفاع وزارت له لوري اداره کېږي. امید راډیو په پښتو، فارسي او انګلیسي ژبو خبري ویب پاڼې لري او هغو خبرونو ته پوښښ ورکوي، چې د واکمنې اداري بریالیتوبونه ښيي. یاده راډیو څو رسنیزه منځپانګه هم تولیدوي او د تویټر، فیسبوک، انستاګرام، تلګرام او یوتیوب په ګډون په ټولنیزو رسنیو کې فعاله حضور لري.

د استخباراتو لوی ریاست رسنیز فعالیت:

١- حریت راډیو: که څه هم په رسمي بڼه نه ده تایید شوې، خو یاده راډیو په ۱۴۰۱ کال کې د استخباراتو لوی ریاست له لوري تاسیس شوه او پر سیمه‌ییزو او کورنیو امنیتي خبرونو او د واکمني اداري پر بریالیتوب تمرکز لري. حریت په پښتو، فارسي، عربي او انګلیسي ژبو څو رسنیزه منځپانګه تولیدوي او د تویټر، فیسبوک، انستاګرام، تلګرام او یوتیوب په ګډون په ټولنیزو رسنیو کې فعاله حضور لري.

٢- میثاق: یاده خپرنۍ ( نشریه) چي په اکس ( پخواني ټویټر) او یوتیوب کې فعالیت لري، په انګلیسي او پښتو ژبو مستند شکله روایتونه او پادکستونه خپروي. یادې نشریې په وروستیو کې د افغانستان د امنیتي وضعیت پر بڼه والي او د پاکستان پر ستونزو او موضوعاتو تمرکز کړی دی.

٣- هندوکش: هندوکش خبري او تحلیلي ویب پاڼې ډېری پر کورني سیاسي اپوزیسیون، مدني فعالانو او حتی خپلواکو خبریالانو تمرکز لري او په پښتو، فارسي او انګلیسي ژبو رسنیزه منځپانګه تولید او خپروي. یاده نشریه چې د اکس، تلګرام، فیسبوک او واتساپ په ګډون په ټولنیزو رسنیو کې هم فعالیت لري، په ۱۴۰۴ کال کې یې د ځینې بندي شويو خبریالانو اجباري اعترافونه هم خپاره کړل، چې د استخباراتو له لوري نیول شوي وو.په تېرو دولسو میاشتو کې د جاپان د NTVتلویزیون خبریال شکیب احمد نظري، د توانا خبري اژانس مسؤل مدیر ابوذر صارم سرپلی، د «پیکسل» اعلاناتي او رسنیزې منځپانګې شرکت مسؤل مدیر نوید اصغري او د افغان (افکا) خبري اژانس راپور ورکوونکي مهدي انصاري د اعترافونو په ګډون څلور اجباري اعترافونه د استخباراتو اړوند رسنیو له لوري نشر شوي دي.

٤- المرصاد: المرصاد خبري او تحلیلي ویب پاڼه د طالبانو حکومت د جوړښت او سیاست څخه پر دفاع په تمرکز سره د جهادي ډلو په ځانګړي ډول د داعش پر وضعیت او په سیمه کې د پاکستان د سیاست پر وړاندې فعالیت کوي.

یاده نشریه د پښتو، فارسي، انګلیسي، ترکي، ازبیکي، روسي، بنګالي، اردو او مالدیوي په ګډون په ۹ نهو ژبو رسنیزه منځپانګه تولید او خپروي او په ټولنیزو شبکو کې هم فعال حضور لري.

۵- عروج: عروج نشریه چې د اکس، فیسبوک، انستاګرام، واتساپ او یوتیوب په ګډون ټولنیزو رسنیو کې فعالیت لري، د افغانستان د وضعیت د ښه والي په تړاو مثبت خبرونه او راپورونه په پښتو او فارسي ژبه خپروي.

۶- د ځرک، شهامت او مجاهد په څېر نورې نشریې هم د تبلیغاتو او واکمنې ادارې د روایتونو د خپرولو لپاره جوړې شوې، چې ډېری په پښتو ژبه فعالیت لري. د یادو نشریو څخه ځینې یې په خاصو مناسبتونو کې مواد او تبلیغاتي بروشور چاپ او د خلکو په منځ کې وېشي.




د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت رسنیز فعالیتونه:

د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت په تېر یو کال کې خپل فعالیتونو پر هغه څه، کې، چې د رسنیو د اصلاح برنامه یې بولي، ډېر کړي دي. د یاد وزارت ویاند سیف الاسلام خیبر د ۱۴۰۴ د غویي په ۱۴مه نېټه «ملي تلویزیون» ته وویل، چې یاد وزارت په تېرو ۱۲ میاشتو کې د هېواد په کچه له رسنیو او خبریالانو سره د « همکارۍ او همغږۍ» څه باندې زر ناستې ترسره کړي دي.

د یاد وزارت مسؤلینو تېر کال د ۱۴۰۳ د زمري په ۳۰مه د یاد وزارت د یو کلنو لاسته د تشریح په برنامه کې ویلي وو، چې په هېواد کې د انځوریزو، غږیزو او چاپي رسنیو ۹۰ سلنه خپرونې «اصلاح» شوي دي..

### د طالبانو حکومت د ویاند دفتر تر پوښښ لاندې رسنیز فعالیتونه

الاماره خبري او تحلیلي ویب پاڼه کې د طالبانو واک له بیا راستنېدو دمخه جوړه شوې ده او د طالبانو ډلې د فرهنګي برخې تر پوښښ لاندې یې فعالیت کاوه او اوس د ذبیح الله مجاهد د دفتر له لوري مدیریت کېږي. یاده انلاین نشریه په پښتو، فارسي، انګلیسي او عربي ژبو فعالیت لري او د طالبانو د حکومت رسمي دریځونو ته پوښښ ورکوي.

### د واکمني اداري د نورو بنسټونو رسنیز فعالیتونه

سربېره پر دې، تقریباً د طالبانو حکومت ټول وزارتونه او اداري مطبوعاتي برخه او ویاند لري. یاد بنسټونه په معموله توګه خپل کلني کاري راپورونه په رسمي ډول بیانوي او په ځینو مواردو کې ویاندویان له رسنیو سره مرکې کوي، خو هېڅکله خبریالانو ته اجازه نه ورکوي، څو ژور او ننګوونکي سوالونه وپوښتي او په تر ټولو غوره حالت کې یادو سوالونو ته ځواب نه ویل کېږي. د ولایتونو په کچه هم وضعیت همداسې دی په دې توپیر، چې د سیمه‌ییزې اداري فعالیتونو ته د اطلاعاتو او کلتور ریاست له لوري پوښښ ورکول کېږي او د امر بالمعروف اداره پر رسنیو مستقیم او دوامداره نظارت لري او هیڅ خبر یا راپور د یادو بنسټونو له اجازې او تایید پرته نه خپرېږي.

### د واکمنې اداري د تبلیغاتو او پروپاګندا پټ او غیر رسمي جوړښت

د رسمي رسنیز جوړښت ترڅنګ د تبلیغاتو او پروپاګندا یوه پټه، څو پوړیزه او پېچلې شبکه هم شتون لري، چې ډېری په مجازي او ډیجیټال فضا کې فعالیت کوي. یاد غیر رسمي جوړښتونه د طالبانو د بنسټونو، ادارو او با نفوذه چارواکو له لوري مدیریت کېږي.

#### ۱- د استخباراتو عمومي ریاست د رسنیزو فعالانو شبکه:

استخبارات د واکمنې اداري د ملاتړو رسنیزو فعالانو یوه شبکه رهبري کوي، چې ډېری په واتساپ کې فعاله ده. یاده شبکه په هر ولایت کې ولایتي ډلې لري او هره ډله له پنځو څخه تر لسو غړي لري. د دې ډلې غړي د سیمه‌ییزو ادارو د کارکوونکو، وګړو او په ځانګړي ډول ځوانانو او د طالبانو حکومت ملاتړو رسنیزو فعالانو له منځه غوره کېږي او هریو یوه اندازه پیسې د معاش او د انترنېټ د لګښتونو په توګه ترلاسه کوي. یادې ډلې د استخباراتو د کړنو د توجیه، د استخباراتو له لوري د تولید شوې منځپانګې خپرولو او هشتګ ټاکلو په موخه جوړې شوې دي. غړي دنده لري په دې ډلو کې شریکه شوې رسنیزه منځپانګه په انلاین فضا کې تکثیر کړي.

#### ۲- ولایتي مبارزې ډلې، چې د استخباراتو د ولایتي مسؤولینو تر پوښښ لاندې کار کوي:

د استخباراتو له لوري د جوړو شویو مبارزو ډلو سربېره، د هر ولایت سیمه‌ییزه اداره هم یوه ډله مبارزین لري، چې شاؤخوا شل کسه دي. یاد کسان دنده لري، چې په ټولنیزو رسنیو کې د واتساپ ګروپونه او مستعار ادرسونه جوړ کړي او هغه رسنیز مواد چې ورسپارل کېږي او تعین شوې هشتګونه خپاره کړي. د دې ډلې غړي هر یو په میاشت کې تر لس زره افغانیو معاش او له ۵۰۰ تر ۸۰۰ افغانیو د انترنېټ لګښتونه تر لاسه کوي.

#### ۳- د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت پټه لړۍ:

د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت په داسې حال کې د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو د بندیز پلي کوونکی دی او د یاد بندیز د پراخېدو لپاره هڅه کوي، خو د خپلو موخو لپاره رسنیزه وېډیویي منځپانګه تولیدوي او هغه د طالبانو د حکومت ملاتړو رسنیزو فعالانو او په آنلاین فضا کې د پلویانو درلودونکو کسانو له لارې خپروي.

#### ٤- د ارګ ( د طالبانو حکومت ریاست الوزرا) او د واکمنې اداري ویاند ذبیح الله مجاهد د دفتر تر ملاتړ لاندې رسنیز فعالان

یاد کسان د واکمنې اداري اعلامیو او لاسته راوړنو ته د ټولنیزو رسنیو او شبکو له لارې پوښښ ورکوي.

٥- جلال بنسټ:

جلال بنسټ د حقاني کورنۍ کلتوري او تبلیغاتي مټ دی، چې په ځانګړي ډول د واکمني اداري د کورنیو چارو وزیر سراج الدین حقاني د محبوبیت لپاره فعالیت کوي. جلال بنسټ د ځینو فرهنګي څېرو، مدني فعالانو او رسنیزو چارو سره بلدو کسانو په جذب سره د مستندونو، څو رسنیزې محتوا او تبلیغاتي موادو د چاپ او تولید په برخه کې فعالیت کوي.

٦- د واکمني اداري د ځانګړو اشخاصو او شخصیتونو پورې تړلي رسنیز فعالان:

یاد کسان د کارپوهانو او د بېلابېلو مسائلو د پوهانو په چوکاټ کې د واکمني اداري د ځینو څېرو لپاره د خلکو په منځ کې د مثبت ذهنیت جوړلو لپاره، په رسنیزو سیاسي ګردي میزونو او یا ځانګړو ناستو کې ګډون کوي او یا د انلاین فضا له لارې په دې برخه کې فعالیت کوي.

## د رسنیو اقتصادي وضعیت

د جمهوري نظام له ړنګېدو وروسته شاؤخوا نیمي رسنۍ د نړیوالو مرستو ودرېدلو او د واکمني اداري له لورې پر ازادو رسنیو د وضع شویو محدودیتونو له امله له فعالیت پاتې شوي او په تېرو څلورو کلونو کې د رسنیزې تجربې لرونکي ګڼو کارکوونکو هېواد پرېښود او یاد بهیر دوام لري. په ۱۴۰۴ کال کې رسنۍ د محدودیتونو د زیاتوالي په ځانګړي ډول د فلمونو او سریالونو، ځینې تفریحي برنامو او د مخاطب خوښېدونکو ننداړو باندې د بندیزونو او د نړیوالو بنسټونو له لورې د ملاتړ شویو اعلانونو د کمښت له امله د عایداتو له جدي کمښت سره مخ شوي. د افغانستان د خبریالانو مرکز څېړنې ښيي، چې یاد وضعیت د دې لامل شوی، څو لویې رسنۍ خپل ډېری کارکوونکي د اقتصادي ستونزو له امله په کور کېنوي، د بېلګې په توګه په کابل کې د موبي رسنیز ګروپ، چې له طلوع، لمر او طلوع نیوز تلویزیوني شبکو، آرمان او اراکوزیا راډیوګانو، باربد د موسیقۍ سټېډیو او کابورا پروکشن څخه جوړ دی، د ۱۴۰۴ کال د مي میاشتې په لومړیو کې خپل لسګونه کارکوونکي په کور کېنول. یوې سرچینې د افغانستان د خبریالانو مرکز ته وویل، چې د ګڼ شمېر ولایتي خبریالانو په ګډون لږ تر لږه ۵۰ کارکوونکي په کور کېنول شوي دي.

په موبي رسنیز ګروپ کې یوې سرچینې وویل، چې د مالي سرچینو د کمښت له امله په پاتې کارکوونکو په ځانګړي ډول خبریالانو فشار ډېر شوی دی او په ډېرې وختونو کې خبریالان اړ دي، چې د راپورونو انځورونه هم واخلي او حتی کاري ساعتونه یې پرته له دې چې اضافه کاري ترلاسه کړي زیات شوي دي.

په ولایتونو کې د رسنیو اقتصادي وضعیت په کراتو بد راپور شوی دی. د هېواد په شمالي ولایتونو کې د یوې خصوصي راډیو څښتن وویل، چې ډېری راډیو ګانې د کارکوونکو او تولیدي خپرونو په کمولو د ورځې په ټاکلو ساعتونو کې فعالیت لري او یا هم کله چې د نړیوالو بنسټونو له لورې ملاتړ شوي سوداګریز تبلیغات لکه د ماشومان د ګوزن واکسین ترلاسه کړي، بیاځلي په فعالیت پیلوي.

نړیوالو بنسټونو ته د امریکا د بودجې کمښت د یاد وضعیت د رامنځته کېدو لوی لامل ګڼل کېږي. د هېواد په ختیځو ولایتونو کې د یوې راډیو مسؤول پر یاد وضعیت د اندیښنې په څرګندولو وویل، چې د نړیوالو مرستو کموالی د رسنیو لپاره د اعلاناتو او ملاتړ شویو برنامو د کموالي لامل شوی او یاد بهیر په هېواد کې دننه رسنیو پر رسنیز کار ژور اغیز لرلی دی. هغه وویل چې د یادې رسنۍ مالي توان تر دې حده راټیټ شوی، چې د کلنیو مالیاتو او جواز د غځولو توان هم نه لري.

د بېلګې په توګه، په ننګرهار کې د لومړي درجه ولایت په توګه باید یوه سیمه‌ییزه راډیو او یا تلویزیون هرکال د فریکونسي د جواز د غځولو لپاره ۱۰۸۰۰۰ ( یو سل او اته زره) او همداراز ۲۵ ډالره جانبي لګښتونه ورکړي. په داسې حال کې، چې یاد مبلغ په دویمه او دریېمه درجه ولایتونو کې لږ دي، خو د سرچینو په وینا ډېری سیمه‌ییزې رسنۍ له دې امله پوروړې دي چې د هغوی د پور اندازه له یو کال څخه تر لسو کلونو پورې دي.

په ۱۴۰۴ کال کې د نړیوالو مرستو کمېدلو، د افغانستان تبعیدي رسنۍ چې ډېری یې له اروپا او شمالي امریکا څخه د افغانستان لپاره خپروني جوړې او خپروي، له سختو مالي ستونزو سره مخ کړي دي او د دې لامل شوي دي، چې دا رسنۍ سخت ریاضتي تدابیر پلي کړي.



د آرشیو انځور، د طلوعنیوز د خبر ستیدیو، کابل. سرچینه: طلوعنیوز

## په رسنیو کې د ښځینه کارکوونکو وضعیت

مخکې روښانه شوه، چې د واکمني اداري د رسنیز سیاست بنسټ هغه کړنلارې دي، چې په تېرو څه باندې څلورو کلونو کې رسنیو ته ابلاغ شوي دي. د یادو کړنلارو شمېر تر دې دمه ۲۴ ته رسېدلی دی، چې په ټولو رسنیو او خبریالانو پلي شوي دي، خو پنځه کړنلارې یې د ښځو لپاره ځانګړې دي. دا [کړنلارې](#)، د واکمني اداري تر کنټرول لاندې رسنیو لکه ملي راډیو او تلویزیون کې د ښځو پر کار بندیز، په تلویزیوني ننداړو کې د ښځو پر ګډون بندیز، د رسنیو په دفترونو کې د ښځو د شتون پر ځرنګوالي محدودیت، میداني کار، چلند او په رسنیو کې د ښځینه خبریالانو د پوښښ ځرنګوالی، د ښځینه‌وو له نارینه‌وو سره په مرکو بندیز او د ښځینه‌وو د غږ پر خپرولو رسمي بندیز او یا په ځینې ولایتونو کې له رسنیو سره د ښځو پر ټلفنوني اړیکو بندیزونه رانغاړي.

د [امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر په قانون](#) کې د ښځینه‌وو بشپړ حجاب یا د ټول بدن، سر او صورت پوښل او په لرې سفرونو کې د شرعي محروم په درلودلو د مکلفولړ په ګډون د ښځو لپاره ځینې ځانګړي محدودیتونه په پام کې نیول شوي او پلي کېږي. د یاد قانون له خپرېدو وروسته موټر چلونکي نه شي کولای هغو ښځو ته، چې شرعي محرم نه لري خدمت وړاندې کړي او ښځې هم له شرعي محرم پرته د لرې سفر اجازه نه لري، چې دې محدودیتونو د ښځو لپاره کار نور هم سخت کړی دی. د فرمان له مخې د امر بالمعروف له لوري د تعریف شوي حجاب په واسطه ښځې د برقعې(چادري) یا د هغه تور حجاب په اغوستلو چې ټول بدن او مخ پټ کړي مکلفي دي او له شرعي محرم پرته له ۷۸ کېلومتره ډېر سفر نه شي کولای.

خو هغه څه چې په ۱۴۰۴ کال کې ولیدل شول، څرګندوي، چې د ښځینه خبریالانو پر وړاندې تبعیضي چلند او محدودیتونه د زیاتوالي په حال کې دي او حتی د واکمني اداري د لوړ پوړو چارواکو په شتون کې پېښ شوي دي.

د بېلګې په توګه په کابل کې د خصوصي تلویزیون کارکوونکي د افغانستان د خبریالانو مرکز ته وویل، په نومبر میاشت کې د واکمنې اداري د یوه لوړ پوړي چارواکي د خبري ناستې پوښښ لپاره په کابل کې د اطلاعاتو او رسنیو مرکز ته تللي وه، خو هغې ته په یاد کنفرانس کې د کېدون او ورتلو اجازه ورنکړل شوه.

په یو خصوصي تلویزیون کې یوې ښځینه خبریالې هم وویل، چې د تلویزیون د مدیریت له لوري د یو اروپایي چارواکي د خبري ناستې د پوښښ لپاره په کابل کې د اروپايي ټولنې د استازولۍ دفتر ته ولېږل شوه، خو د واکمني اداري امنیتي ځواکونو له لوري هغې ته د ورتللو اجازه ورنه کړل شوه.

په یوه بله پېښه کې د ۱۴۰۴ کال د زمري په لومړۍ نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د واکمني اداري د بهرنیو چارو وزیر [امیرخان متقي په خبري ناسته کې](#) د ښځینه خبریالې غږ سانسور شو.

یاده ناسته په ژوندۍ بڼه له ملي تلویزیون څخه خپرېدله او کله چې دوه ښځینه خبریالانو خپلې پوښتنې له متقي څخه وپوښتلې، د هغوی غږ له تلویزیون څخه پرې شو او وروسته له دې چې د هغوی پوښتنې خلاصې شوې، د یادې پېښې ژوندي بهیر پرته له خنډه دوام وموند.

د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر په قانون کې د ښځو غږ خصوصي او یا عورت بلل شوی دی، چې باید له کوره بهر وا نهورېدل شي.

داسې نښې لیدل کیږي، چې په ولایتونو کې په رسنیو کې ښځینه کارکوونکي اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې د ډېرو ستونزو سره مخ دي. په ځینو ولایتونو کې د لړ برخه پاتې ښځینه خبریالانو د وضعیت په تړاو د افغانستان د خبریالانو مرکز څېرنې ښیي، چې هغوی ته په خبري ناستو او یا لویو برنامو کې د ګډون اجازه نه ورکول کېږي. د ښځینه رسنیو د جواز د غځولو او یا د میداني راپورونو د چمتو کولو لپاره د کاري جواز په برخه کې هغوی ته خنډونو او پلمې جوړېږي. دا محدودیتونه یوازې په خبري ناستو یا د خپرونو د پوښښ پورې محدودې نه دي، بلکې ښځینه خبریالانې له دفتر څخه بهر د میداني راپورونو د چمتو کولو پر مهال هم له جدي ستونزو سره مخ دي، د بېلګې په توګه د هیواد په لوېدیځو ولایتونو کې یوه ښځینه خبریاله د محرم په شتون کې په دې پلمه، چې له سیمه‌ییزو مسؤلینو څخه له اجازې پرته یې د راپور په جوړولو لاس پورې کړی، ونیول شوه او دوه ورځې یې په بند کې تېرې کړې او څېرنې ترې وشوې.

په اپریل میاشت کې د بدخشان ځایي اداري د بانوان او حریم زن راډیوګانو - د ښځو لپاره ځانګړې راډیوګانې- کار د امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر قانون پر بنسټ، چې د ښځو غږ یې له کوره بهر خصوصي یا عورت بللی، د شریعت خلاف وباله او پرېکړه یې وکړه چې ویې تړي، خو د ځینې لاملونو له امله یاده پرېکړه پلي نه شوه.

### د راپور د موندنو ارزونه او شننه

د جمهوري نظام له ړنګېدو او د طالبانو بیا راستنېدو وروسته دوره کې، په افغانستان کې پر رسنیو واکمنه سیاسي او حقوقي فضا په بې ساري ډول بدلون کړی دی. د راپور د موندنو له مخې، د بیان ازادي او اطلاعاتو ته د لاسرسي حقونه چې د بشري حقونو نړیوالي اعلامیې او د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په ګډون نړیوالو اسنادو کې تضمین شوي دي، د طالبانو په حکومت کې په ژوره توګه محدود شوي. د ۱۳۸۲ کال د جمهوري دولت اساسي قانون او د ټولیزو رسنیو قانون چې د رسنیو د ازادي له اصولو، د اطلاع رسوني او اطلاعاتو ته د لاسرسي له حقونو یې ملاتړ کاوه، په عمل کې خپل ځای نویو مقرراتو او کړنلارو ته ورکړی، چې له اسلامي شریعت او ارزښتونو څخه د یو خاص تفسیر پر بنسټ جوړ شوي او له هغوی څخه ټاکلي او روښانه تعریف نه دی وړاندې شوی.

د ۱۴۰۰ کال په زمري میاشت کې د طالبانو له بیا واکمنېدو سره رسنیز سیاستونه او کړنلارې په بې ساري ډول محدودونکي شوي دي. په دولتي او خصوصي رسنیو کې ښځو پر کار بندیز، د موسیقي پر خپرولو بندیز، د لاریونونو او اعتراضونو د پوښښ محدودېدل، په خصوصي رسنیو کې د ښځو پر کار د محدودیتونو زیاتېدل، په مرکو او سیاسي ګردي

مېزونو شدید کنټرول او د ژوندیو خپرونو او نیوکه کوونکو شننو پر خپرولو بندیز د هغو محدودیتونو له ډلې دي، چې د رسنیو ازادي یې له سوال سره مخ کړې ده. دا محدودیتونه ډېری د اسلامي تفسیرونو او ملي ګټو پر بنسټ رامنځته کېږي، خو په عمل کې یې د رسنیو د ځېل، ګواښل او له فعالیت پاتې کېدل له ځانه سره درلودلي دي. د بېلګې په توګه په ۱۴۰۴ کال کې د رسنیو او خبریالانو له حقونو څخه د سرغړونې څه باندې ۲۰۰ پېښې ثبت شوي دي، چې لسګونه د نیول کېدلو، ګواښلو او د څو رسنیو د تړل کېدلو پېښې رانغاړي.

د رسمي جوړښتونو ترڅنګ د طالبانو د امنیتي او تبلیغاتي بنسټونو له لوري د غیر رسمي جوړښتو او پروپاګندا شبکه د خپلواکو روایتونو په مخنیوي او د واکمنې اداري د پروپاګندا په ملاتړ کې لویه ونډه لري. یاده شبکه له مجازي فضا، د طالبانو ملاتړي رسنیزو فعالانو او کلتوري او تبلیغاتي بنسټونو څخه په ګټې اخیستنې هڅه کوي، څو د طالبانو د حکومتولۍ په تړاو یو اړخیزه مثبت روایت دوو کړي او مخالفان او خپلواکې رسنۍ وځپي.

سربېره پر دې، د نړیوالو مرستو کمېدل او مالي محدودیتونه د ځینو رسنیو د بندیدلو، د تولیدي خپرونو د کموالي او د ګڼو رسنیزو کارکوونکو د بېکاره کېدلو لامل شوي دي، چې په پایله کې یې د رسنیو د ازادي کچه ټیټه شوې او فعالې رسنۍ د طالبانو حکومت په ګټه د کنټرول شوې او تبلیغاتي محتوا تر تولید محدودې شوې دي.

همدارازپه رسنیو کې د ښځو د شتون او د ښځینه خبریالانو پر وړاندې تبعیضي چلند په تړاو محدودونکی سیاست د جنسیتي محدودیتونو د زیاتېدو ښکارندویي کوي. د ښځو د غږ پر خپرولو او ځینو ولایتونو کې د ښځینه‌وو پر ټلفنوني اړیکو بندیزونه او په ژوندیو خبري ناستو کې د ښځو د غږ سانسور د ښځو لپاره کاري فضا په شدت محدوده کړې ده.

په ټوله کې د حقوقي نظام په نشتون او د طالبانو رسنیز سیاست پر بنسټ کړنلارې د بنسټیزو ازادیو د محدودولو او په رسنیزو روایتونو د بشپړ کنټرول راوستلو لپاره لاره هواروي. دې سیاستونو په تدریجي توګه د خپلواکو رسنیو په له منځه وړلو، د خبریالانو په ځپلو او د تبلیغاتي او پروپاګندا جوړښتونو په جوړولو د رسنیز فعالیت لپاره محدودونکې او له ننګونو ډکه فضا رامنځته کړې، چې په افغانستان کې یې د بیان ازادي راتلونکی له جدي ننګونو سره مخ کړی دی. یاد وضعیت د افغانستان په ټولنه کې د نیوکې د فضا، ازادې اطلاع رسونې او د بشري حقونو په تړاو جدي اندېښنې راپارولې دي.

## وړاندیزونه

د واکمني اداري چارواکو ته:

- هغه رسنيزې کړنلارې دې لغو شي، چې د ټوليزو رسنيو او اطلاعاتو ته د لاسرسي له قانون سره په ټکر کې رسنيو ته ابلاغ شوي او د رسنيو او خبرياالنو ازادي يې په شدت محدوده کړې ده؛
- محدوديتونه او په رسنيو کې د ښځينه کارکوونکو پر وړاندې تبعيضي چلند ته دې د پای ټکی کېښودل شي، چې د هغوی مسلکي کار او همداراز د نظرونو او د ښځو او ماشومانو د وضعيت په پوښښ کې يې د خبرياالنو ازادي اغيزمنه کړې ده؛
- په رسنيزو چارو کې دې د غير مسؤولو بنسټونو په ځانګړي ډول د استخباراتو او امر بالمعروف او نهی عن‌المنکر وزارت د الس وهنو بهير ته د پای ټکی کېښودل شي؛
- د خبرياالنو او رسنيو د ګواښلو او د رسنيزو کارکوونکو د نيولو بهير ته دې د پای ټکی کېښودل شي او بندي خبرياالن دې پرته له کوم قيد او شرط څخه ژر تر ژره خوشې شي؛
- د خبرياالنو او رسنيزو کارکوونکو د امنيت تأمين او خونديتوب څخه د ډاډ ترالسه کولو لپاره دې ځانګړې او ټاکلي تدابير پلي شي؛
- د ټوليزو رسنيو او اطلاعاتو ته د السرسي قانونونو په ګډون په هر ډول رسنيزو قانونونو کې بيا کتنه بايد، د نړيوالو معيارونو په پام کې نيولو او له ازادو رسنيو او کارپوهانو سره په مشورې ترسره شي؛
- رسنيزو سرغړونو او شکايتونو ته د رسېدنې کميسيون غړي دې د مسلکي او قانوني معيارونو په پام کې نيولو سره د هر ډول جنسيتي تبعيض پرته وټاکل شي او کميسيون دې د ټوليزو رسنيو له قانون سره سم له کاري صالحيتونو برخمن شي؛
- اطالعاتو ته د السرسي خپلواک کميسيون جوړښت دې وساتل شي او ډاډ دې ترالسه شي، چې ياد کميسيون د خپل مسلکي او قانوني مسؤوليت د پلي کولو وړتيا لري؛
- د ازادو رسنيو او خبرياالنو او اطالعاتو ته د السرسي حق د ارزښت په تړاو دې د واکمني اداري چارواکو او وياندويانو ته د پوهاوي ځانګړې برنامې جوړې شي؛
- د رسنيو ژورو اقتصادي ستونزو ته په کتو دې د رسنيو مالياتي پور وبخښل شي او يا دې لږ تر لږه د هغوی اداء کول په اوږد مهاله قسطونو کې په پام کې ونيول شي؛
- د رسنيو د بېالبېلو جوازونو په ځانګړي ډول د فرېکوېنسي د غځولو او د برق لګښت دې د رسنيو له عايداتو سره سم تنظيم شي؛
- د رسنيو په ځانګړي ډول د ښځينه‌وو د رسنيو جوړولو او د جوازونو غځولو په برخه کې دې د خنډونو جوړولو ته د پای ټکی کېښودل شي او په دې برخه کې دې غوښتنو ته له قانون سره سمه رسېدنه وشي.

نړیوالي ټولني او اړوندو نړیوالو بنسټونو ته:

- هغو ازادو او خپلواکو رسنیو ته، چې د محدودیتونو او اقتصادي ستونزو له امله اغېزمني شوي، په داسي شکل د مالي مرستو ورکړل شي، چې خپلواکي ته یي زیان و نه رسېږي؛
- د خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړوني له پروګرامونو څخه دي ملاتړ وشي؛
- د افغانستان په رسنیو کې دي له ښځینه کارکوونکو څخه، په ځانګړي ډول د ظرفیت لوړوني د پروګرامونو له لاري ملاتړ وشي؛
- له واکمني اداري سره دي د رسنیو او خبریالانو د ازادۍ او د حقونو تأمین لپاره د عدالت غوښتني بهیر پیاوړی شي؛
- له هغو خبریالانو سره، چې د خپل کار له امله ګوابښل شوي، همکاري وشي؛
- د هغو خپلواکو او ازادو رسنیو څخه دي ملاتړ وشي، چې له هېواد څخه بهر د افغانستان لپاره کار کوي.

پای